
کابل
پرله پسې ګڼه (۴۳۲)
کابل پسرلی

ژوند

ژوند د ګل هوا و ښکلو ښځو کښې دی
اور کښې د هجران په سوزېدو کښې دی

ژوند کښې چه حرکت نه وي بې خونده وي
خوند ئې پرېوتو او د چټېدو کښې دی

بې حسه چه ژوند شي هېڅ ژوند نه دی
ژوند له ډېره درده رپېدو کښې دی

ژوند لکه سیلاب دی کور د زړونو وړی
ژوند د جمع زړونو خورېدو کښې دی

ژوند کړی په سینو کښې تلاطم پیدا
ژوند د ګرېوانو نو په شلېدو کښې دی

ژوند لکه په وریځو کښې برېښنا ګڼه
ژوند له ډېره غمه مسېدو کښې دی

ژوند دی د لیلی د خندا سترګو کښې
هم د قیس د زړه په درزېدو کښې دی

ژوند د آدم خان د رباب ترنګ کښې دی
کور د درخانۍ په ګډېدو کښې دی

«باتور ـ صاحبزاده ادریسی»

توده وینه

توده وینه په میدان کښې چه سور اور شي
تقدیرونه د قومونو پکښې نور شي

ګرمه وینه د ژوندون د باغ بهار وي
د ارمان د ناوې دغه ډول سینګار وي

د دښمن په وینه نور د هلته سره شي
خپله وینه چه د تورې نه تېره شي

چه د وینې جوش ئې نه وي زړه لحد شي
د ژوندون او مرګ ترمینځه دغه حد شي

«لاله زار ـ یونس خلیل»

(۲۷ کال) (۳) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوّره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

دپښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: م،د،«ژواک»

پته: دمحمدجانخان وات دلیک او اصول دپخوانی ښوونځی تر څنگه

دتیلفون نمبر (...)

د ۱۳۳۶ کال

د ثور

(۱۵)

د ۱۳۷٦ کال د شوال (٥)

د ۱۹۵۷ کال د مې (٥)

په دې گڼه کښې

مضامین

د غرب تمدن

پښتو . . . .

ملاشاه پسند (رح)

ځینې تاریخي . . .

روبیار . . .

په انساني تولنه . . .

فایدو . . .

محمد نور

د تعصب حقیقت

د تصحیح ځانګه

د بیدیا ګلان

زما قسم

غیر پرستانو ته

لیوني ادب

ماشوم ولیده

تفنگداران خیبر:

دا وړوکی کتاب د ښاغلی غلام غوث خیبری لیکل شوی اثر دی چه د انیس ورځپانې په خپله ورځ پانه کښې مسلسل نشر کړی دی ښاغلی خیبری اکثرو یو نکی پیژنی چه یو ځوان لیکوال دی او په نوی پیر ایه یعنی ډرامتیک سبك کښې ښه لاس لری.

ده دا کتاب ډیر خوږ لیکلی دی او په خپل کتاب کښې ئې ډرام هیرو (ناصر خان) چه یو پښتون زلمی دی په خپلو ښتني خواصو ډیر ښه ښودلی دی.

دا کتاب د ټولو یو ونکو خوښیږی د کابل مجله دهمدی کتاب دکتني وصیه و ټولو ویونکو ته کوی او ښاغلی لیکوال ته ئې تبریك وائی په همدې شان د انیس نشراتی موسسې ته دهمدې ډول آثارو دنشر و لونورتوفیق له خدای (ج) غوښته غواړی. (اداره)

لیکوال

۱- ښاغلی رحیمی

۲- خوږ بیانی

۳- رشاد

٤- ثابت

٥- د انمان

٦- زاهل

۷- زین الله

۸ سبائی

۹- ننگلامی

۱۰- جالوان

۱۱- پرهیز

۱۲- د بسرلی

۱۳- ژواك

۱٤- لونگین

ښاغلی غلام سرور رحیمی:
لیکنه او تتبع:

د غرب تمدن

٤ - برخه

منځنۍ پېړۍ: چه د ځینو علماو، په نظریه د (٥) عیسوی قرن څخه شروع او تر پنځلسم عیسوی قرن پوری دوام لری خصوصاً او له برخه ئې چه د اروپا دخوب دوره ده که څه ددې پېړ یو په اواخرو کښی د اروپا نهضت شروع کېږی د دې منځنیو پېړیو چه مونږ دخوب دوره وبلله اجتماعی اقتصادی اوسیاسی اوضاع به لاندی ډول تر کتنې لاندی نیسو: په منځنیو پېړیو کښې داجتماعی اوضاعو د نقطی نظره په اروپا کښی د نصرانیت مذهب و کمال ته رسیدلی او مذهب حکم فرمائی درلود، خلك ډېر په مذهبی فعالیتونو بخت ؤ انفرادی او اجتماعی انزوا او گوشه نشینی د مذهبی فعالیتونو په غرض تعمیم او ترویج درلود ثروت او دارائی ته په بده سترگه کتل کېدل، انسان یو عاجز گناه کار او عاصی اوبې وزله مخلوق ؤ چه پر خپلو مقدراتو ئې لاس نه درلود، داسې ویلای شو، چه د نصرانیت مذهب عبارت ده له نظریو او مفکورو څخه ؤ چه په منځنیو پېړیو کښی ئې داروپا اجتماعی، اقتصادی او سیاسی ژوندون اداره کاوه د نصرانیت او له مرحله دیهودو او نصاراؤ په جنگ او جدل کښې تیره شوه او سل کاله ئې دوام وکړ، د نصرانیت روښانه دوره هغه وخت شروع شوه چه د روم امپراطوری د نصرانیت مذهب په رسمیت وپیژانده نو په دې وقت کښی کلیسا تشکیل شوه دا دوره پس له څلرم قرن څخه شروع او تر اوم قرن پوری ئې دوام درلود. په دې وخت کښی کلیسا دوې مهمې پائې درلودې یو پتر او بل پال. نصارا معتقد و، چه حضرت عیسی د کلیسا بنا پر پتر ایښې ده او وده ئې د تولو اسمانو کلی ور کړی دی اما هغه چا چه کلیسا ډېره مقتدره کړه هغه گریگوری ؤ گریگوری د کلیسا مامورینو ته امر و کړ چه په داخلی امورو کښی مداخله و کړی او هغه کنترول کړی، نو د کلیسا یو مامور درلوده چه مالیه به ئې تو لوله یو منتظم د ښار د پاره و، چه د ښار چاری به ئې پر مخ بیولی او یو قاضی کلیسا درلوده چه دعوی به ئې فیصله کولی د دې د پاره چه د دوی د مذهبی نظریو څخه ښه خبر شو، نو د قرون وسطی د آگستین چه یو مذهبی زعیم ؤ بعض نظری دلته راوړو آگستین معتقد ؤ چه مرگ د انسانانو د گناهو جزا ده ښه، افعال او نیکو کاری د یوه انسان د نجات وسیله نشی کېدلای. څه ئې چه د نجات وسیله ده هغه اعتقاد او دخدای فضل دی او عقیده پخپله دخدای فضل دی نو د عقیدی

د خاوند څخه باید د هیڅ کار توقع ونشي خدای تعالی یو معین وخت ګناهو نه بخښي چه هغه معین وخت د کلیسا له خوا څخه تعین او ټاکل کیږي.

عبادت د نصرانیت په مذهب کښې په دري ډوله کیده:

(۱) انفرادي انزوا چه یو سړی وای چه خپل ټول حیات په انفرادي ډول سره عبادت ته وقف کړی او دنیا او د دنیا کارونه دې پرېښودل شي

(۲) مجموعي انزوا چه یوه لویه ډله خلك په صومعه کښې داخل شول او ټول ژوندون به ئې په منظم عبادت تیراوه او د دنیا کارونه به ئې پرېښوول، د دې صومعې ته مصارف کلیسا ورکول او البته کلیسا بیا مالیه ټولوله د مغفرت اسناد ئې خرڅول او ګناوې ئې پر پیسو عفوه کولې.

(۳) اجتماعي عبادت و، چه ټول خلك مکلف ؤ چه کلیسا ته ورشي او عبادت وکړي کلیسا عبادت په وعظ او نصیحت پر مخ بیوه خلك ئې تشویق کول، د دې عبادات د پیشرفت د وهمه وسیله پولیس او عسکر و، یعني کلیسا د پولیسو او عسکرو په زور هم عند اللزوم مذهبي فعالیتونه او عبادت تحمیلاوه. د کلیسا وروستنۍ وسیله د کفر حکم او جزاء وه.

په لنډ قسم مو د منځنیو پیړیو اجتماعي ژوند چه په اروپا کښې روی کاوه ذکر کړ اوس به د کلیسا او پاپ په باره کښې لنډ بیان وکړو. په قرون وسطی کښې کلیسا د کاتولیك یوه لویه موسسه وه چه د پاپ په واسطه اداره کېدله او پاپ د شاه په حیث د کلیسا او عمومي پادشاه په ډول د اروپا حکمراني کوله، پاپ دری پوړه تاج پر سر کاوه او خپل ځان ئې د حضرت عیسی نماینده باله. تنها پاپ د انجیل د تفسیر او تعبیر حق درلود ځکه ده ادعا کوله چه روح القدس په پاپ کښې دننه دی او تنها دی د انجیل د تعبیر او تفسیر حق لري، ده به انجیل د خپل میل سره برابر د خپلې حمائی او ریاست د پاره تعبیر او ترجمه کاوه. ده د کلیسا قوانین تدوینول او د کلیسا مامورینو هغه تطبیق کول، ده د کلیسا د اعدام حکم صادرولای شو او جزائی ورکولای شوه. مجلسونه ئې درلوده. مالیه ئې ټولوله، محکمې ئې رانیولې، ثروت او تمول ئې ټولاوه چه اکثره ئې په زور او جبر د خلکو څخه اخیستل. خارجي روابط ئې د خارجي مملکتو سره قائمول. مقدس جنګونه ئې اعلانول. عسکر ئې عند اللزوم د ټولو اروپائي مملکتو څخه جمع کول، که به کوم اروپائي پادشاه او یا بل چا تخلف وکړ د مرګ امر ئې صادر او اعدام اوه ئې او واژه ئې. لکه چه د مخه موو ویل د ګناهو اسناد او د مغفرت جواز ئې خرڅاوه. خلك ئې د مقدسو ځایو سفر ته تشویق او تحریك کول. صلیبونه ئې په لوړ قیمت او ګرانه بیه خرڅول، پاپ او کلیسا لا محدود صلاحیت او اقتدار درلود، په بله مقاله کښې به ئې د قرون وسطی سیاسي او اقتصادي اوضاع مطالعه کړو انشا الله.

ښاغلی محمدامین خوږیانی:

د پښتو او پښتونولۍ روح

د دښمنانو دستر ګو اغزی او د دوستانو د سر ګل اوسه!

د اعلیحضرت محمد نادرشاه وینا
(۱)

پښتو - پښتونولي او معتقدات - اجتماعیات - ننګ - جنګ - وهنګ
پښتو هغه ژبه ده چه پښتانه وربا ندې تکلم لري د پښتو عرف او غیرت هم پښتو بولي.

پښتونولي او د پښتو معتقدات:

د پښتنو عرف او غیرت او احساسات چه په یو مستقل قومي ذوق او ضرورت بنا دي عقلي او نقلي او محیطي ایجابات ئې ساتلي دي فردي منزلي او قومي او اولسي مفا د لري پښتو نولي ئې بولي.

تفصیلات ئې زیات دي او روح ئې دغه جمله کښې ښکاره شوی دی چه اعلیحضرت محمد نادرشاه د (۲۸) کلو د تجربو څخه وررسته چه: د پښتونولۍ په اساس ئې انقلاب ته خاتمه ورکړه نو دغه ورځ ئې د افغانستان د نجات ورځ وبلله

د دې ورځې لمړی تلین د سنه ۱۳۰۹ د میزان په ۲۳ را ورسېده نو دغه فقید او حکیم پادشاه د مملکت د مشکلاتو سرګذشت او د ترقیاتو ضرورت د نجات د منارې شمالي خوا کښې د خپل حکومت او د ملت غړو ته بیان اوه. او خپله وینا ئې په دغه جمله پای ته ورسوله، ګویا د غه حسن انجام د بیان وجه د ترقۍ انجام او د پښتونولۍ روح دی.

«پښتون د پښتو نولۍ څخه همدغه غواړی چه د دوستانو د سر ګل او د دښمنانو دستر ګو اغزی واوسی».

د مسلمانۍ روش

او همدا روح د حضرت رسول (ص) د اصحابو په جماعت کښې ؤ. دا خبره دې واضحه وی چه د ژوندانه روح په فرد کښې انفرادي او جامعه کښې اجتماعي وی پروردګار د حضرت رسول مقبول (ص) د اصحابو اجتماعي روح دا رنګ بیان کړی دی چه په دښمنانو باندې ډېر غښتلي او کلک او خپلو کښې نرم او مهربان دي، ته ئې ګورې چه د خدای تعالی په لمانځه کښې راکع او ساجد او د خدای تعالی د نعمتونو په غوښتنه کښې ګرځان او د هغه د رضاء په باب کښې جویان دي.
(مفاد الایه)

پښتو نولۍ کښې کمالات او نقصانات دواړه پیدا کیده چه اسلام راغلو، نو پښتونولۍ ته ئې نوی آب و تاب ورکړ او دائې مهذبه کړه، نو د اسلامي دورې پښتانه د پښتونولۍ معراج مسلماني بولي، د قندهار او ننګرهار او د پېښور د پښتونخوا لیکوالو همدا مطلب په مقالونو رسایلو او کتابونو کښې په جلا جلا عبارت داخل کړی دی چه مسلمان نه وی هغه پښتون ندی د پښتون قومیت د اسلامیت څخه جدا کیدلای نشی.

ډېر پښتانه د اسلام څخه پخوا هندوستان ته تللی، قبائلی نومونه ئې ساتلی دی، خونه

هغوی ځانونه پښتانه بولی نه ئی
پښتانه خپل عزیزان بولی
دراولپنډۍ استیشن کښې یو
استیشن ماسټر د سنه ۱۳۲٤
شمسی هجری په ژمی کښې
ماسره یوه اوږده علمی مصاحبه
درلوده، د سانسکرت تاریخی
کتابونه ئې ښه زده و، خو رالوی
ادیب و، ما ور ځخه یو پښتنه وکړه
چه ته په دین او قومیت څوك ئی
هغه ځان کاکړ او په دین هندو
و باله او وئې ویل د پینډۍ څخه
شمالی خواته د کشمیر لمن
کښې دولس زره کوره د یو
پرنو گانې نه پیدا شوی و خلقو
ځخه یو فرد دی نه پښتون ژنه ئې
پښتون ځان باله او نه ئې پښتانه
پښتون بولی چه د دین څخه ولاړ
د قومیت څخه ووتلو.

قومیتونه د اسلام څخه پخوا
د و ینی په آساس جوړ یدل
یو نانیانو هندوانو ته
خو ینډې لونې ور کړې او
هندوانو ایرانیانو ته ور کولی
رومیانو ایرانیانو ته ور کولی
حال دا چه هر قوم جلا جلا
دین، جلا جلا فلسفه درلوده
بودایان برهمنان مجوسیان
نصرانیان عناصر پرستان هر څوك
چه وو، به خو خپلو ی ئې
درلودې د پادشاهانو خپلوی
به د بل ملك پادشاهانو سره وی
د بل دین د بل قوم خلقو سره
به ئې وی.

اسلام د قومیت ریښې د مسلمانی
حلقه کښې محدودې وساتلی
د کتابیانو ښځو ته ئې د نکاح
اجازه ورکړه، خو کتابی
نارینه ئې په خپلوی نه دی
منلی د دا ځکه چه قیمومیت
د نارینه دی اسلام په خانگی
او اجتماعی ژوندانه کښې
انفرادی او سیاسی ژوندون
د مسلمان او د مسلمانی آزادی
یو رنگ ساتلی دی، د بل سیادت ئې
ورباندی نه دې پریښی که
دار اسلام کښې وی او که دار
حرب کښې وی مسلمانه ښځه
به د کافر قیمومیت نه قبلوی
او مسلمان ته د افرمان دی
چه مشرکه به نه کوی مسلمانه
ښځه د مشرکې بی بی څخه بهتره
د ه، نو نا مسلمان د مسلمان څخه
قوماً بیل شو، د کانال سویز
مسئله کښې د مسلمانانو جوش
او خروش دا ثابته کړه چه اول
مسلمانی بیا قومیت دی، په دې
مسئله کښې سوریه او حجاز
او سودان او شرق اردن او
مراکش دومره متأثر وو لکه چه
د پورټ سعید مجروح مسلمانان
که دغه قومیت وی نو پښتنو به
ولې ځان واژه، که د لارو
بندیز نه وای نو اول پښتون به زه وم
چه د پورټ سعید میدان کښې
قربانی ته ولاړ وی، اوس دې هم
خدای تعالی ورباندې اسانه
کړی هر پښتون رمایه شان یه
سر و مال شاه و گدا ولاړ دی چه
د هغوی د سر څخه بلا چپه کړی
داد مسلمانی جوش دی لاری
به پیدا کړی دا ځکه چه حکومت
موفدا کار حکومت دی عجمی،
دولتونه نور هم دا جوش لری
خود چاواك خپل د چا پر دی
د چا زړه قوی د چا نری دی
چا عله گولو کړه او د چا آواز
چاوته رسا وه هر یوه په خپله
اندازه د هغوی په درد
دردمند دی.

د پښتونولۍ د تهذیب او تمدن
اعتقادی برخه:

پښتونولۍ ښې منورې او لوړې
دورې تېرې کړی دی او لوړ

اديبان ئې درلوده نامتو نامتو پهلوانان ئې پيدا كول دهند اوايران دشام اويونان دمصر اوتوران دچين او عربستان نوي اوزاړه تاريخ كښې د پښتانه نوې اوزړې توري بيا نيدي او بيا نيږي.

دشرق اوغرب دشمال اوجنوب تجارت دافغانستان دلاري دپښتنو په مرسته او ددوي په لاس ارتباط پيدا كاوه خود فلك په دورو كښې لري بري مونده كيږي چه اسلام راته نو پښتو نو ليه قبايلي حيثيت درلود.

اسلام ددې عرف اصلاح دا رنګ وكړه لكه چه دعربو عرف چه ئې اصلاح كړ، قرآن دخداى كتاب دى خداى تعالى دهرچا خداى دى قرآن دعربو مال نه دى دخداى مال دى مونږ په دې ستر ګومنلى دى اوپيغمبر دخداى تعالى له خوا راغلى دخداى استاځى دى خداى تعالى دهرچا دى اوپيغمبر ئې هم دهرچا دى دا احسان دخداى تعالى له خوا دى مونږ دخداى شكر ګذار يو اودرسول شكر ګذار يو خداى اورسول دټول بشريت دى دخداى په قرآن د پيغمبر په بيان موايمان دى چه هغه كړى مونږ ئې كوو چه هغه منع كړى مونږ ئې نه كوو چه هغه ليدلى اوخه ئې نه دى ويلى مونږ ئې منو، د پيغمبر څلور ياران دى څلورواړه منو دپيغمبر ترالوزيات اصحابان دى دد ين ستورى دى زمونږ د ستر ګو نور دى. دې اصحابانو زمونږ وطن كښې ددين څراغ بل كړى دى مونږ ئې ممنون يو، زمونږ ددين استادان همدوى دى د خداى كتاب دپيغمبر سنت د چهاريارانو رفتار داصحابانو اجماع زمونږ دينى دستاويزونه دى خوش بختانه زمونږ دقياسى مسائلو استاد زمونږ وطنداراابوحنيفه نعمان بن ثابت كوفى د كابل دسنجددرى داوسيدونكى نمسى دى.

ددې استاد (امام) نيكه ماه نوميده د كابل د ګوډيا دشاه په جنګ كښې سنه ۳۲ هجرى كښې بندى شو اوبصرې ته ئې برغمل بوته د ده سره نور برغملان هم وو اوهلكان هم ورسره وو دوى ته ئې دبصرى دچونيه منځ كښې دكابل دآباد يو په طرز مسجد جوړ كړ دغه مسجد كښې به ئې دينى درسونه زده كول د كابل اسيران خصوصاً ددى مدرسې تعليم يافته ګان ځينى هورې پاته شو اوځينى كوفى ته ولاړل د امام صاحب نيكه هم كوفى ته ولاړ اوامام صاحب هورې وزيږيده اوهورې مجتهد شه هغه مسايل چه ده د قرآن او حديث او د اصحابو داجماع څخه مستنبط كړي دى، دحنفى مذهب مسايل وائى دامذهب هارون رشيد عباسى خليفه دامام صاحب دوفات څخه شل كاله پس رسمى وګرځاوه، ددې مذهب داسې فاكولته ئې دامام محمد شيبانى لاس كښې پرېښوده ده شاګردان به ئې قاضيان كول او دده كتابونه به ئې ورحواله كول دا امام مستقل امام نه ؤ د امام اعظم پوښاګرد ؤ او د هغه د مذهب مسايل ئې مرتب او مستند كول، بيا ئې مدون كول دې امام ته امام منتسب وائى يعنى لوى امام ته ئې نسبت كيده دقضاتو په سر بل لوى قاضى مقررؤ چه

قاضیان به ئې مقرر ول او دهغوی مشکلات به ئې حل کول د غه قاضي قضاة دامام صاحب یو بل شاګرد امام (منتسب) ابو یوسف ؤ دادواړه امامان عربان وو او لوی امام عجم ؤ او عجمو کښې افغان عجم و ' دې امام د اصحابانو اقوال اعمال او استقراء د اسې وسنجوله چه دلمړی اوور وښتی تاریخ دراوی او د ناقل عقل ' فکر ' علم او حافظه سن او تقوی او دلیل ئې دتدقیقا تولاندې ونیول او د شریعت هغه قواعدو باندې ئې تطبیق کړه چه په آساس داستنباط په مناط د شریعت په چوکاټ برابر و ' نو هغه مسئله به ئې خپل مذهب کښې قبوله کړه . دامام صاحب شاګردانو او د شاګردانو شاګردانو به ئې دغه مسایل د استادانو دخولې املا کول یعنی کتابچو کښې به ئې نقلول .

هر کله چه قاضی قضاة امام یوسف دقضاوت په مسند کښېناسته نو کتاب الخراج ئې پادشاه ته وکښلو چه د مملکت د دخل وخرج اساسنامه ئې وګرزوی .

او قضاتو ته به ئې هدایت ور کول او د امام محمد دار العلوم دومره ترقی وکړه چه د مصر څخه ترچین او ترسنده او د فرغانې څخه ترشامه دغه کتابونه ورسېدل او هرچېرې مروج شوه .

امام محمد هم د امام اعظم شاګرد ؤ او هم د امام ابو یوسف او امام ابو یوسف هم د امام اعظم شاګرد ؤ او هم د امام مالك چه مجتهد فی المذهب او د موطاء مؤلف دی او امام شافعی هم د امام مالك شاګرد وو او هم د امام ابو یوسف او امام شافعی چه قریش دی او د مستقل مذهب خاوند دی ده به فرمایل چه خلق په فقه کښې د امام ابو حنیفه عیال (کورنی) دی یعنی دده دعلم څخه مستفید دی او امام مالك به فرمائل چه د امام ابو حنیفه دومره قوی استدلال دی چه دی دلرګو دې ستنې ته ووائی چه دا د سروزرو ده نو دی به ئې په دلایلو باندی ثابته کړی چه دا د سرو زرو ده .

د امام اعظم صاحب فقه درود نیل څخه ترچین او هندوستان ترك وتاتار یو رسمي وه او اوس هم مقبول له ده دا د افغانستان یو افتخار دی او پښتون بې ددې چه د افغانستان دمشرانو او لادؤ داعتقاد له رویه په امام صاحب فدا دی .

۳ ـ مستشرقین وائی دامام صاحب فقه دروما زاړه قانون سره تطبیق لری او د امام مالك صاحب فقه داوسنی بین المللی قانون سره تطبیق پیدا کوی .

دروما زوړ قانون د دنیا مقننانو خوښ وه بین المللی قوانین او دروما قانون وضعی قوانین دی او حنفی فقه وضعی قانون نه دی د آسمانی اصولو د فروعو څخه یوه فرعه ده چه د دنیا مقننان ئې معقول قانون بولی نو په عقل او نقل برابر دی دا کار ئې په یو فکر په تجارتی مفاد ' په سیاسی تقاضا په اقتصادی آرزو نه کاوه دعلم په رڼا کښې ئې د حکم علت لټاوه دضرر او د نفع جنبه ئې پکښې پلټله ددې حکم اضداد او امثال ئې پیدا کول چه و رته به حقیقت وځلېدلو نو دخپلو شاګردانو جرګې ته به ئې وروړاندې کړه په دې مسئله به مدح او قدح

آزاده وه‌مخالف اوموافق به‌ئې
پیدا کړه دشاګردانو جر که
کښې لس تنه‌ډېر مشهوراوسل تنه
مشهوراونورعادي علماء شامل‌ؤ
چه ټولو ته به حق ښکاره شو
نه به ئې تصويب کړ.

بيا به ئې چه د مذهب په
مخالفت حديث پيدا کړ نومسئله
به ئې تعديل کړه دې تعديل ته
رجوع وائي.. قرآن وائي
(فردوه الى الله ورسوله) يعني
خپل اختلافات دخداى اورسول
قول ته‌رد اوبيائې حل کړىء
دشخصياتواوشخص آراءاوپيروى
ديني امورو کښې مه کوىء.

نو دامام صاحب دمذهب مسائل
ځني ځني دهغه په‌ژوند تعديل
شوي دي بياچه دده شاګردانو
حديث موندلى‌دى نوخپله رايه
ئې دحديث تابع کړې‌ده‌او هغه
مسئله منل شوې ده بيا نور
امامان پيدا شوي دي چه
دمذهب تابع وو اواجتهاد ئې
کاوه بيا بله طبقه پيدا شوي
ده چه راجح او مرجوح ئې
بيلول نودې مذهب تنقيح او
تصحيح ترڅلور سوه کاله جاري
وه بيانو علماؤ اتفاق وکړ چه
همدا څلور کاڼ ساتل پکار دي دهرچا
خوښه‌چه‌هر مذهب مني که‌حنفي
وي دحنفي مذهب پيروي به کوي
که مالکي وي که شافعي وي
که حنبلي وي خپل خپل مذهب
به چلوي او که‌يوه داسي واقعه
پيداشوه چه يو مذهب کښې ئې
حکم نه ؤ نودزمانې علماء به
هغه مسئله دبل مذهب څخه
خپل مذهب ته را نقل کړي
اوخپل احتياج به ور باندې
پوره کړي خوداسي به‌نه کوي
چه‌ددې‌مذهب‌څخه‌داخوښوم‌دبل
څخه‌بل‌څه‌چه‌دا دمذهب استخفاف
اودخواهشاتو پيروي ده دد نيا
سياستمداران‌خپل مسلك ساتي
نود يانتمداران به ئې ولې
نه ساتي.

څلور واړه امامانو دومره
مسائل استنباط کړي دي چه
ديارلس سوه کاله وو باندې
کاروشو ددوي شاګردانو
څلوروسوو کلو کښې لوىدرياب
جوړ کړى‌دى دهرچا احتياج
ورباندې پوره‌شوى دي.

اوفرضا که داسي کار
پيداشه چه ددعه علما ؤ څخه
پاته‌وونوعلم‌هم‌شته عالمان هم
شته عقيده هم شته بيا به نورته
نوى تابيه نيسي او فقط هم هغه
پواحتياج ته‌به حکم راوباسي
دامستقل مقررات لري دافغانستان
مملکت کښې‌پادشاهان‌اومشايخ
علماءاووزراءسرداران‌اوخانان
ملکان اوسوداګران‌اوعاميان
ټل‌ترټله دامام اعظم په‌مذهب
تېر شوي دي دغورد کرت
خاندان يوپادشاه شافعيت‌قبول
کړ چه دعلماؤ مخالفت ئې
وليد نوبياحنفي شو. سبب داؤ
چه دقوم احتياج حنيفانو ته‌ؤ
نو دحنفيت رسميت ادامه پيدا
کړه او س نو حنفيت دومره
رسوخ پيدا کړى‌دى‌چه‌دپښتانه
طبعي شى ګرځېدلى دى.

اميرمساعد دحجازشاهزاده
پرو سږ کال دکابل‌عيدګاه
کښې داختر په‌ورځ د لمانځه
څخه پخوا سره دخپلو ملګرو
دتحية‌المسجد لمونځ‌اداکاوه
نو لمانځه کښې به ئې خپلې
عباګانې راټولې کړې بيا
به‌لاس په نامه ودرېده نو
دټولې‌عيدګاه حاضرينوور ته
دتعجب به‌سترګه کتل حتى
حاجيانو هم ورته حيرت‌درلود

چه لمانځه کښې خو بل عمل نشته دا یه دوازه‌لسه عبارانولوی د حاجیانو دا هم وو چه د وی حجاز ته تللی او خبر دی چه هورې حنبلی مذهب رسمیت لری سبب دا وه چه د عادت خلاف ئې لیده گو یا حنفیت باندې ولاړ دی افغانستان پښتون د یو دین یو مذهب خاوندان دی طریقت کښې پښتانه مشایخ داسې مرشدان لری چه یا به شافعی مذهب وو لکه حضرت امام غزالی (رح) او یا به حنبلی مذهب ؤ لکه قطب الاقطاب شیخ محی الدین سید عبدالقادر جیلانی قدس سره العزیز لیکن فقهی مذهب د ټولو حنفی دی اذکار او ادعیه به د مرشد په طریقه کوی لمونځ او دس به په خپل مذهب کوی نو مسلمانی او سنی توب او حنفیت به پښتونولی باندې خپل رنگ غورزولی دی پښتانه دارتگ نه بدلوی او نه ئې بدلولی شی د پښتونولی عرف په دې رنگ رنگ شوی دی د چهارباغ جناب حضرت ضیاء معصوم (رح) به سنت لمونځ په حجره کښې کاوه او فرض به ئې مسجد کښې په جماعت کاوه بیا به ورو سته سنتو ته ژر و لاړ په دې حجرې ته به نو پښتنو عامیانو او طالبانو به استعجاب کاوه چه دا او ای د لمانځه اداب سر ته نه رسوی؟ یوه ورځ زما مهربان او نامدار عالم پلار ورته وویل چه خلق سودا کښې لویدلی دی هغه وفرمایل چه د پیغمبر سنت خلقو پرې ایښی او د اخون درویزه سنت ئې نیولی زه د اخون درویزه امتی نه یم د پیغمبر امتی یم زه وایم اخون درویزه یو وقتی اهتمام کاوه او س عادت شه دا ځکه هغه قبایلی سړی ؤ یوسفزی نوی ده نشین شوی وو غسلخانې او داوداسه ځایونه بیت الخلا گانې او چاه گانې ئې کورونو کښې نه درلودې چه کور او دس تازه کړی نو صحراء ته به ولاړ او هورې به ئې اودس تازه کړ بیا به د مسجد سقاو ته راغلل او کورونو کښې به مالداری وی نو سنت به ئې هم په مسجد کښې ادا کړه نو دا عبادت هم عادت شو افضله خو داده چه فرض په مسجد کښې او نفل په کور کښې وی. اصل دین علم توحید دی او په توحید اقرار او باور هغه لا یتغیر شی دی تنزل به وی بل عبادت دی په هغه طرز چه احنافو بیان کړی دی هم هغسې به وی لکه چه وو بل معاملات دی هغې کښې حلال او حرام دی هم هغسې به وی لکه چه وو بل اخلاق دی شارع دا اخلاقو ښه او بد ښوولی دی.

نور بیا

ښاغلی رشاد قندهاری:

ملاشاه پسند (رح)

د نیش اخند صاحب رحمة الله علیه (ملاشاه پسند اخند) نیمه پیړۍ پخوا د قندهار په لمه کښې یو ښاغلی سالك او منلی ستانه تېر شوی دی، دی د خپل وخت په متشرعو روحانیونو کښې یو وتلی سړی ؤ د ده منظوم تبلیغی اثر (تنبیه الغافلین) یا (زاد الراحلین) (چه سر تر پایه موعظه او پند دی) مونږ مجبور کوی چه د پښتنو شعراو په لړ کښې ئې هم نوم ضبط کړو

پېژندنه:

د نېش د اخند صاحب (رح) نوم (شاه پسند)، په ځمه پوپل زی او د (نېش) د سیمې (چه له قندهاره څخه تقریباً ۶۰ میله شمال غربی پلو ته پروت دی) د خوردیز ؤ په کاریز کښې زوکړی دی د مرحوم اخند صاحب د زوکړې نېټه د ۱۲۷۰ ه کال په شاوخوا کښې تا کل کېدلای شی ځکه چه د ده مړینه په ۱۳۲۹ ه ق کال کښې پېښه شوې ده او د قندهار سپین ږیری ئې د مړینې په وخت کښې عمر شپیتو ته رسیدلی بولی د نېش په (تور کمن) نومې کلی کښې د مرحوم اخند صاحب ابدی کور اوه دیره ده.

وایی د اخند صاحب (رح) پلار د خپل کلی ملك او د خیلی کور نۍ او تېر مشر ؤ اخند صاحب چه ځوان شو پر علمی تحصیل سربېره یې صنعت ته هم لاس واچاوه لمړی یې گاولی او چوتی رغولی وروورو یې تر کانې هم پسې زده کړه د خپل زیار له لارې یې حلاله روزی گټله او تقوی یې مانعه وه چه د پلار له کټې څخه څه وخوري مرحوم اخند صاحب (رح) خپلو مریدانو ته تر معمول ارشاد علاوه د عملی خیر رسولو تلقین زیات کاوه پخپله یې هم په دې لاره کښې زیار و نه گاله د خاکریز تېری، دیراوت پر لار و یې د کاروانو او مسافرو د هوسا یې له پاره هر هر ځای نغمونه کیندلی دی څهان یې کنبلی دی او چه وس ئې رسیدلی دی ونې ئې ایښې دی،

د وینا بلگه:

هر ستم ظلم آغاز شو په جهان کښې — د ظالم شوه پر مظلوم او زده لا سو نه
د مظلوم استغاثه هیڅ فایده نه کا — چه حاکم ته ظالم ور کاندی مو کو نه
پر گردش د زمانی نه کړی څوك پام — له هر چا څه عمر درومی په نا کام
گو هر عمر له هر چا څه وزیا درومی — هیڅوك نشته چه یې و کړی احترام
دانن یو ساعت بها ده د دوو کو نو — په عبث سره ئې مو نږو لی صرفوو نه؟

پاته په لسم مخ کښې

دبناغلی ثابت تتبع او لیکنه :

ځینی تاریخی لیکنی دغور او دقت وړ وی

لکه چه په انسانانو کښی نازل او مرتب شته چه ځینی یی یواځی دتقلید په درجه کښی وی، او پرته له محض تقلیده څخه بله مرتبه ځانته نشی موندلای او دبشر ځینی افراد داسی اشخاص وی چه د خپل لیاقت او علمی منزلت له حیثه لوړ و مدار جو ته پورته شوی وی، چه د نوی اختراع او نو یو اساسو نوا بښولو قدر یی پیدا کړی وی او د اجتهاد او استنباط وس هم پښکی وی، کولای شی چه د خپل علم، پوهی او علمی ممارست او صحیحی ملکی په اثر په ځینو مسائلو او موضوعه قوانینو او یا فنو نو کښی اجتهاد او استنباط و کړی او د ځینو نویو مسئلو په وضع کولو او استخراج بریالی او موفق شی. علوم هم ابتداء پر دوو برخو ویشل کیږی چه ځینی ئی نقلی، آسمانی علوم او الهی ارشادات دی، په دغه برخه علو مو کښی بشر نه د تغیر، تبدل او نور تصرف حق نه دی ور کړ شوی. او بله برخه یی عقلی علوم دی چه دا برخه علوم په هر عصر او هره زمانه کښی د انسانانو په مجاهده او فکری کوششو نو پوری مربوط وی، او د دغو موضوعاتو منبع یواځی یواځی د انسانانو او د عوره او مقتدرو پوهانو عقلی او فکری مدارج وی په دغه معقولی برخه علو مو کښی د تولو انسانانو د پار د کوشش او تتبع لپاره خلاصه ده او کولای شی چه د خپل علم او پوهی له لاری په ځینو موضوعاتو کښی نور کشف او نوی استخراج و کړی او پر اصلی موضوعاتو باندی څه زیادت راولی او په هغه کښی نوې اختراع و کړی.

او ددی معقولی علو مو په حصه کښی دعلم دخاوندانو له پاره تقلید او بی کوششه او بی سنجولو پر هغه لپاره روا نید له نا منا سبه بلکی کله کله دښوئیدلو موجب هم کیدای شی.

او د لته زمو نږ، مطلب دځینی تاریخی موضوعاتو په

د ۹ مخ پاته

ني اولجه ده ستا په لاس کښی داستا عمر — دا او لجه به ستا له لاسه شی بیرو نه

چه له بله څخه یا ته شوه و تا ته — هم له تا څخه به یا ته شی بل چا ته

بیله خدایه کل اشیا واړه فانی دی — راشه راشه د زړه مخ کړه و الله ته

نوری خاوری به بستر شی تر تا لاندی — دا جهان به شی تو له له تا څخه یا ته

وچ هډو کی به په تور لحد کښی پروت بی — د عقبی حال دی معلوم دی و مولا ته

که میړه یی دم، قدم دی په حضور کړه — نور کار و نه همگی دی بی ثبا ته

پندو نو و ته تل وا بی «شاپسنده» ! — ولی بند دی د خپل ځان در څخه یا ته

باب کښې څېړنه او غور دی او تاریخي مسائل هم چه په تیرو واقعاتو او اشخاصو او د هغوی په تاریخ او نیټو تاکلو او نورو داسې امورو په باب کښې بحثونه کوي او دا امور هم داسې نه وي چه فقط و فقط د هغوی په لیکنو د سړي اکتفا او قناعت وکړای شي، ځکه تاریخي لیکنې ډیر ځله د خلکو او اشخاصو د خواهشاتو په مطابق وي او یا کله داسې هم پیښیږي چه د تاریخ لیکونکي له خوا په ځینو موضوعاتو کښې پوره تتبع او څېړنه نه وي شوې او ځینې لیکنې هم له واقعي څخه مخالفې او له اصلي حقیقت سره سر نه خوري، نو په داسې ځایو کښې متتبع ته لازمیږي چه باید په ښه دقت او غور سره هغه مطالعه او له خپل حقیقت سره تطبیق ور کړي او یا خو نظریه ور کړي چه په دغه باب کښې څوک په غور او دقت سره تتبع وکړي چه د هغه اصلي حقیقت کشف او نور له سهوي څخه خلک ځانو نه وژغوري.

دلته زمونږ د پښتنو په تاریخ کښې ځینې لیکنې شته چه انسان په اشتباه کښې غورځوي او سړی اعتماد نشي ورباندي کولای، بلکه د هغو لیکنو له مخې په خپله ځینو پښتنو لیکوالو خپل نظریات او بحثونه پر هغو متفرع کړي او پر هغو باندي بې حوالې کړي دي، او ما چه په دقت سره د هغې تاریخي لیکنې په خواوشا نظر واچاوه او له نورو موثوقو او بلکه متواترو تاریخي لیکنو سره مې د هغې مقایسه وکړه زیات تفاوت پکښې لیدل کیږي او داسې ګمان کیږي چه دا به یواځې یوالخي یوه عوامي خبره وي او اصلي اساس به ئې بې سنجشه او بې دقته ایښودل شوی وي، بیا به په پای کښې یوه موثوقه او پخه تاریخي موضوع ور څخه جوړه شوې وي.

دا تاریخي لیکنې زمونږ د خورا پخواني ستر روحاني نیکه، شیخ بیټ بابا د ژوند او حیات په باب کښې د تاریخ تاکل دي، په داسې ډول چه: ځینو مورخینو د هغه د ژوندانه نیټه د دري سوه هجري پیړۍ په حدودو کښې تاکلې ده، او ځینې مورخین وائي چه شیخ بیټ بابا له دري سوه هجري پیړۍ نه تر څلور سوه هجري پیړۍ پوري په دغو حدودو کښې حیات لاره، چه یعني تر دري سوه هجري پیړۍ وړاندي د هغه ژوند نه وائي.

نو په دې حساب د هغه د ټول ځوځات او اولادي وجود او پیدا ښت له دري سوه هجري پیړۍ څخه وروسته او یا خو له څلورمې نیمايي هجري پیړۍ څخه لا هم را وروسته ثابتیږي نو دا باید و ویل شي چه د بیټ بابا اولاده چه ده ته یې د نسب سلسله منتهي کیږي که لږ دي او که ډیر ټول له ده څخه را وروسته وختونو کښې چه له دغه تاریخه تر اوسه پوري پوره زر کلونه کیږي پیدا شوي او ډیر شوي دي، او تر هغه د مخه نو دغې ډلې پښتنو کوم نوم او نښان نه درلود.

او حقیقت داسې دی چه: د دري سوه هجري پیړۍ په خواوشا کښې بلکه تر هغه لا له مخه د ده اولاده موجوده وه او نوم و نښان یې په نړۍ کښې درلود. چه د نوموړي بیټ بابا له اولادې څخه یوه قبیله د لودیانو پښتنو قبیله او تېر دي

چه د دغه تېر نوم او نښان د محمد غه دری سوه هجری کالو په حدودو او یا له څه وړو ستمه راغلی او موجودیت یې اثبات ته رسېدلی دی. او د پښتنو په تاریخ کښې دستړو، پېښو نسبت هغوی ته شوی دی. لکه چه په پښتنو پورې مربوط او واقعات و په باب تول تاریخ لیکونکی وایی چه: چه تر دری سوه هجری قرن څخه دېروړاندې د پښتونخوا په جنوبی برخو کښې داتك د سیند تر غاړو پورې پښتنو استوګنه لرله، او لیکی چه کله کله به ددوی او د هند د پنجاب در اجا ګانو تر منځ اخ و ډب او جګړې هم پېښېدې. او په دغو سیمو کښې د پښتنو د برېښت او قوی تهاجمات هم څرګند وی:

چه ددغو کشمکشونو او اوږدو دوړ به اثر چه د پښتنو او د پنجاب د خلکو او راجاګانو په منځ کښې په واقع کېدلی، یو په پای کښې پښتانه بریالی شول د سیند او د ملتان د ښار سیمې د پنجاب تر غربی سرحدونو پورې یې په لاس راوستلې او د ملتان ښار یې د پښتنو د پاچاهۍ پایتخت و ټاکه او له دغه مرکز څخه به یې دا پاسیند دواړې خواوې اداره کولې، او ددوی د زیات قدرت په اثر ؤ، چه د پنجاب او شمالی غربی هند زمامداران هم د پښتنو په دغه سلطه قانع شول او د پښتنو حکومت یې په ملتان کښې په رسمیت وپېژاند، او په دغه ډول سره د هغوی او د پښتنو د زمامدارانو تر منځ سوله او مصالحه وشوه او ددوی او د پښتنو په منځ کښې دوستانه او دسولې روابط قائم شول له هغه وخته څخه په دغو سیمو کښې د اسلامی دین اساسونه کلك شول، او د هند په غربی او شمال غربی خواوو کښې د پښتنو علماؤ له خوا د اسلام د مقدس دین خپرولو دپاره تبلیغات کېدل. او ددغو پښتنو مشران د نومړو لودی پښتنو له ټبر څخه وو، چه ستر زمامدار او مشر یې شیخ حمید لودی ؤ او دا تولی جګړې چه د پښتنو او نورو تر منځ په دغو سیمو کښې کېدلی د نومړی شیخ حمید لودی تر مشرۍ لاندې او دده په لیار ښوونه کېدې، چه په پای کښې دوی بریالی شوی دی او دا شیخ حمید لودی په ملتان کښې د پښتنو پاچا شوی ؤ، او تول پښتانه پرده راتول او د پنجاب تر سرحدونو پورې ئې د پاچاهۍ شرقی سرحد رسېدلی ؤ. او هغه وخت چه د سامانی حکومت یو ستر سپه سالار البتګین نامی د افغانستان له شمالی خوا څخه له خپلو زیاتو لښکرو سره غزنی ته راغی او په غزنی کښې یې د خود مختاری او خپل مستقل سلطنت بیرغ پورته کړ او د افغانستان په دغه مرکزی برخه کښې پاچا شو او د جنوب غرب خوا نه تر قندهار او ګرشك پورې او د شمال شرق خوا نه د کابل او پا دلو ګر د څرخ تر سیمو پورې دده د سلطنت لمن خپره شوه، او په هره خوا کښې دده د قوت او پاچاهۍ انګازې خپرې شوې نو په دې حال کښې د پښتنو د ملتان نومړی پاچا شیخ حمید لودی چه سربېره پر خپلې پاچاهۍ یې د اسلام د مقدس دین له نشرولو او د شرك له محوکولو سره زیاته علاقه او مینه درلوده، دده د اسلام د کلمې

داعلا او تقویه کولو په غرض
دغزنی نوموړی پاچا الپتګین
د ځان ملګری ته دعوت کړ
او ورڅخه یې وغوښتل چه که
ما سره له کفار و سره
په دینی جهاد کښې ګډون
او ملګری وکړي چه د اسلام
د پر مخ تګ د پاره په ګډه
کوشش وکړو ، او نوموړی
الپتګین هم دپښتنو دغه روحانی
اسلام پروره پاچا دابلنه ومنله
او له هغه سره ئې د مشر کانو په
جګړو کښې کومکونه وکړل
چه څوپه پای کښې ددغه پښتانه
مسلمان پاچا د کوششونو په اثر
دپنجاب په سیمو کښې داسلام
مقدس دین تقویه او پرمخ ولاړ
او دپنجاب اکثره برخې دهمد غه
شیخ حمیدلودی پښتانه پاچا په
عصر کښې داسلام په دین مشرفې
شوې او هغه منطقی اسلامی
منطقی شوې ، او دلاهور ښار له
هغه وخته څخه د پنجاب په
برخه کښې یو اسلامی مرکز

شو . چه څو بیا د لو دیانو
پښتنو ددغی کورنی له پاچاهی
څخه وروسته دغه دلاهور ښار
دغزنوی پاچاهانو دژمی پایتخت
او مرکز شو ، چه غزنوی پاچاهانو
به کله کله ژمی هلته په لاهور
کښې تیراوه نو څو چه دغوری
حکومت له خوا دغزنی د نیولو
څخه وروسته بیا لاهور بیخی
دغزنوی پاچاهانو مرکز او پایتخت
شو . او داخیزونه هم دپښتانه
قوم په تاریخ کښې دستر افتخار
او مباهات وړ شیونه دی او دپښتنو
دعظمت او شوکت یوه لویه نښه
ده چه د پنجاب ، ملتان
او سیند سیمې دپښتنو پاچاهانو
په تصرف کښې لومړی راغلی
وی او دپښتنو پاچاهانو له خوا
په هغو سیمو کښې د اسلام
لومړی اساس ایښودل شوی
دی . چه بیا غزنویانو ددوی
پر مراث کښېښنا ستل او تراوسه
پوری هغه د دوی اساس

باقی پاته دی ! ! !

بیر ته دموضوع سر ته راځو
چه ځینی تاریخی لیکنی
دغور او دقت وړ دی ! مونږ وویل
چه ځینی مورخین وائی چه
زمونږ روحانی نیکه شیخ بیټ
بابا ددری سوه هجری پیړۍ او
یا په بل قول له دری سوه څخه
تر څلور سوه هجری پړۍ
پوری زمانه کښې یې حیات
درلود ، او وموویل چه دپښتنو
یو بل روحانی مشر به پاچا
شیخ حمیدلودی ، په دری سوه
هجری پیړۍ او یا له څخه وروسته
زمانه کښې ئې ژوندکاوه
او په ملتان کښې دپښتنو پاچاؤ ،
او وموویل چه دغزنی الپتګین
نومی پاچا له ده سره په
غزاګانو کښې ملګری کړی ده
دا دغزنی پاچا الپتګین هم له دری
سوه هجری څخه لږڅه وروسته
په غزنی کښې پاچا شوی دی
نور بیا (۱) برخه

لیکونکی ښاغلی محمدعالم اتمان

روېبار او د هغه چارې

څرنګه چه د پکتیا والو زیاتې کوزدې او دوستۍ د روېبارانو په واسطه کېږي، نو د مخه تر هغه چه زه تاسو ته د پکتیا والو د کوزدو دودونو په باب لیکنه (موضوع) کښې څه ووایم، باید ه خودانې چه زه تاسو ته لومړی روېبار او بیا د هغه چارې در وښیم.

روېبار: روېبار هغه څوک دی چه زنیو، زلمو او کونډانو ته د کوزدو او دودونو پېل وهي، او بل تل ترتله د دوو کسو یا کورنیو ترمنځ د خپلوۍ تار غړي.

روېبارې په خوابو ویاړ بخ (فخري) کار وؤ، چه چا به دیو چا د پاره په روېبارۍ کاوه.

منګر اوس داسې نه ده، اوس خو کله چه روېبار یار و یبار ه دد وستۍ کوونکو له کورنو او د پېرو نژدې خپلوانو څخه نه وي، یعنې بوپل بېرته یا وویره وي، نو بیا برسېره په پاسلېینه (احسان بارونه) د هغې خپلې روېبارۍ په مقابل کښې بو ټیکری لونګۍ او یا خوا که یکه (مطلق) د هغو په نامه یو موټی پیسې هم غواړي.

هو! روېباران خو کله چه په دې پوهشي، چه دا دوستي خو هرو مرو کېدونکې ده، نو ددې د پاره چه سبا د وی ته د هغې خپلې لونګۍ یا ټیکری په باب لیکنه (موضوع) کښې کوم جنجال او کړکېچ ور پېښ نشي، نو تر هر څه د مخه لومړی له کوزده وال او یا خودخور، لور له پلار ګني څخه ها خپل لاس روغوي یعنې ټیکری، لونګۍ ترې غواړي.

او که د لونګۍ دسون داربې نه ؤ، نو بیا ها خپل ټیکری لونګۍ د خپل کار له تماموالو نه ورسته غواړي.

د روېبار، روېبارۍ پخوا یو الحې هما غه ټیکری یا لونګۍ وه چه تول تال قیمت بې (۱۰،۲۰،۳۰) روپو ته رسېده منګر دا پیسې ورو ستې ورو، و روپسې زیاتېدې. څو چه (۲۰۰،۴۰۰،۶۰۰) سوو ته وختې.

او حتی اوس په پکتیا کښې لا داسې روېباران هم شته، چه له ځینو نه اړو درماندو څخه په وار (۱۰۰۰،۲۰۰۰،۳۰۰۰) روپۍ هم د لونګۍ په نامه اخلي.

روېبارې په پکتیا کښې لا تر اوسه ځان ته د یوه ځانګړي مسلک شکل نه دی غوره کړی، چه هغه دې باید هر ځای او هر چېرې ځان ته یوه څو تنه ځانګړي کسان ولري او هغوی دې بیا د همیش د پاره دا کار وکړي بلکه په پکتیا کښې هر څوک او هر سړی چه وغواړي، دا کار کولی شي په تېره خو بیا هغه کسان چه د کوزده کوونکې او د ورکړونې خور، لور لهوا کمنو سره لیږ، د پېره خپلوی یا پېژندګلوی لري.

هو! د دوستۍ په کړن کښې کله کله داسې هم پېښېږي، چه دوه دوستۍ کوونکې د ها خپلې پخوانۍ خپلوۍ یا پېژندګلوۍ له مخې بې روېباره دوستۍ سره وکړي

منګر کله چه ددوو دوستۍ کوونکو ترمنځ د خپلوۍ یا پېژندګلوۍ تکی نه وي نو بیا د هغو ترمنځ د روېبار شته والی حتمي دی.

روېباران کله له یوې او کله کله له دواړو خواو، څخه خپل ټیکری یا لونګۍ بوده وي.

په پکتیا کښې د روېبار، روېبارۍ (ټیکری، لونګۍ) لاتراوسه پورې یو ټاکلی اندازه نه لري، چه سړی خو له بې چوله کړی او وو ایې چه دومره یا دومره، بلکې حالته په دې باب کښې تل ترتل ددوو جوړښت دی او بس.

ښاغلی محمد اسماعیل زاهل دا د بیا تو لیسا نسیه:

په انسانی ټولنه کښې د تلویزیون خدمت

پنځویشت کاله د مخه چه د تلویزیون اختراع تکمیل شوه نو د تخنیك پوهان په دې فکر کښې ولویده چه باید د تلویزیون څخه د علم، صنعت او طب په لیاره کښې هم کار واخلی هغه کار چه دورو ستنی قرن په څنرمه برخه کښې د تلویزیون څخه واخیستل شو فرهنگی، هنری او تفریحی چاری وې یا په بل عبارت گویا د فن د نقطهٔ نظره څخه ئې سینما اورا د یو سره یو ځای کړه برسیره پر دې چه تلویزیون په دې تیر شوو پنځویشت کلو کښې د علم، صنعت او طب (داکتری) د پاره گټور کار ونه کړی دی، روغ په روغ نور نوی نوی شیان هم د خلکو د فائیدې د پاره میدان ته راباسی.

مثلا: که یو پالونکی ته ورننوزیء او د هغې ماشین وویني ء نو به تعجب وکړیء او به وابا ست چه دادو نه، پیچونه نلکې، عقربونه او نور شیان د څه شی د پاره دی، حال دا چه هر یو د نو مو رو شیا نو پخپل ذات کښې دالوتکې د پاره مهم او ضروری شی بلل کیږی، او هر طیاره وان او میخانیك د مخه تر دې چه خپله الوتکه په هوا کړی مجبور دی چه د ما شین هره پرزه وگوری او خپل یقین پرې حاصل کړی.

نو د تلویزیون د نوو خدمتو څخه یو دادی چه ژر به د یر د دې لوی او وړو شیا نو څخه ایسته کړی او د دې ټولو کار به یو ازی پخپلو دو، پر دو سره وکړی یعنی یوه پرده د تلویزیون به دالو تلو په وخت کښې جغرافیاوی اوضاع ښئې، او بله به ئې د الوتو په حال کښې د طوفان او ریځی او نور شیا نو دیاره کار کوی.

نو په دې کښې شك نشته چه په دې ډول د طیاره وان کار ډیر سپك او آسانه کیږی، ځکه نور نو دی ته اړ نه دی چه د مخه تر الوتو باید د ایه سوؤ او زرو لو یی او و ړ ې پر ې وگوری او و ې آزموی د تلویزیون دا خدمت که څه هم په راتلونکو کالو پوری اړه لری خو بیا هم د قدر او خوښی وړ دی برسیره پر دی نن ورځ هم تلویزیون چه الوتکو کښې ځینې کار ونه کړی او کوی چه لوی خدمت ورته ویلای شو، او هغه دادی:

تاسو ته ښه تر امعلو مه ده چه د یوې نوی الوتکې په هوا کول او د هغې آزموینه یوسا ده او آسانه کار نه دی بلکه ډیر خطری او حتی مرگ ور سره تړلی دی او هغه طیاره وان چه دا کار پر اوږه اخلی باید ډیری پوهې او ښه مهارت خاوندوی.

نو دغه دی چه نن ورځ د تلویزیون له برکته دغه د خطرې ډك کار له منځه ایسته شوی دی، او یو طیاره وان نور نه دی مجبور چه د نوی الوتکې د په هوا کولو له کبله د مرگ خطر قبول کړی او دژو ندله ټولو آرزو گانو څخه ځان بې برخې وگڼی ځکه نن روځ نو ې الوتکې لو مړ ی وار

د تلویزیون په واسطه آزمویل کیږي یعني الوتکه په راډیوئي امواجو بیله طیاره وان په هوا کیږي، ګرځي او بیرته پر مځکه کښیني وروسته تر هغه چه د تلویزیون په واسطه الوتکه و آزمویل شوه بیا نو هر طیاره وان کولای شي چه په ډېره خوښۍ او اډوره زړه هغه الوتکه په هوا کړي او شاوخوا ئې وګرځوي او کار ځینې واخلي تلویزیون وانسانانو ته دداسي صنعت په لیاره کښې هم ډېرې هوسائې او ګټې وررسولي دي، مثلا: د اوسپنې و یلولو او نورو کیمیائي شیانو په کارخانو کښې مخصوص تلویزیونه دي، چه د کورې وضعیت د بخار دیګ او ددود کښانو شکل په عین ډول و مهندس ته ښئي، ګویا داسي ښکاره کوي چه ته وا پخپله مهندس هلته ولاړ دی او په ستر ګوئې وینې. بر سیره پر دې حتی نن روځ پوهان کولای شي چه د تلویزیون په مرسته اتمي کورې و کورې، یا هغه خطرناکه راډیو اکټیوي فلزات د یوه ځایه و بل ځای ته یوسي او تر آزموینې لاندې ئې ونیسي.

پنځه ویشت کاله دمخه چه د تلویزیون عملي امکانونه پوره او داطمینان وړ شوه، نو پوهان او مخترعین په دې فکر کښې شوه چه د تلویزیون څخه باید د صنعت او ډاکټرۍ په چارو کښې هم کار او ګټه واخلي.

خو سره د دوی د ډېرې ستړیا او کوښښ ئې هم و نه کولای شوای چه غیر له د پوهنې او ساعت تېرۍ د چارو څخه نور کار هم ځینې واخلي مګر نن روځ تلویزیون د صنعت او ډاکټرۍ په چارو کښې هم داوې تحول او ډېر تعجب وړ ګرځېدلی دی.

ځکه د یوې خوا ډېر لوی او مهم کارونه په خورا لږ وخت کښې کوي، چه په دې اساس ګویا وخت چه نن طلا بلل کیږي لږ مصرفوي. او له بلې خوائې د هغو کارو کول ډېر سپک او آسانه ښکاره کړل کوم چه تر نن ورځې د هغوی کول غیر ممکن ښکاره کېدل.

دا و د تلویزیون ځینې خدمتونه چه و انساني ټولنو ته ئې کړي دي، داچه انسانان به دده څخه دخپل راتلونکي ژوند د هوسائې او نیک مرغۍ د پاره څومره ګټې وکړي، په ښکاره ډول نشم ویلای.

ځکه زه هغه ګټې تر خپل تصور او ګمان هم ډېرې بولم یوشی بل چه دلته ئې هرومرو باید ګرانو لوستونکوته و لیکم هغه دا دی چه نن روځ پوهان غواړي د صنعتي تلویزیونو په دستګاهو کښې، حساس دوربینونه او د لمر سرې وړانګې [اشعات مادون قرمز] اضافه کړي چه په تاریکۍ کښې هم ولیدل شي. نو په دې کښې شک نشته چه داسې به د تلویزیون ګټې و خلګو ته یو په دوه کړي.

ښاغلی زین الله:

فائده او د ځان ښکلا

دا صحیح خبره ده چه ډیرو خلکو د ځان ښکلی کول د لباس د ښکلی توب څخه مخ کښی کنړلی دی، زیات خلک ډیر تکلیفونه ددې د پاره پر ځان گالی چه د خپل صورت بدرنگی په ښکلا بدله کړی، دا خلک ډیرو گرمیو او یخنیو تحمل کوی، د ځان د تکلیفونو د لیری کولو زیار پر ځان نه گالی خو د صورت د ښکلا د پاره چه کوم زیار گالی هغه فیلسوف (همبولټ: چه د جرمنی مشهور فیلسوف او سیاح دی) داسی ښکاره کوی چه: د (ادری نو کو: د جنوبی امریکا یو بحر دی) د اوسیدونکو د خپل جسمانی راحت په طرف هیڅ توجه نه وه مگر دوه دوه اونۍ به ئی ددې د پاره محنت پر ځان تیراوه او مزدوری به ئی کوله چه ځانونو ته رنگ واخلی او خپل پوستکی ورباندی رنگ کړی چه خلک ئې وگوری او واه واه ورته وکړی، او د همدی وحشیانو ښځو ته ددې جرأت نه ؤ چه ځانونه ئې نه وای رنگ کړی او د باندی را وتلی وای او ددې بد سلیقگۍ د جرم مرتکبی شوی وای کوم چه به ئی به لوڅو راوتلو هیڅ پروا نه کوله، سیاحانو ته ددې خبرې پوره معلومات شته چه وحشیانو ته د تاری او ور ښېښینو جامو څخه رنګینو دانواو ودو ودو گوتیو او دامی نورو گانو زیات اهمیت درلود، ددې خبری قصی موجودی دي چه کله دی وحشیانو ته کمیس یا کوټ رسیدلی دی نو دادوی یو خندنی نمائش کوی، له دی څخه ښه ثابتیږی چه دا رائش خیال د فائدې په خیال باندی څه قدر غالب دی، له دې خبری نبر شه ددې دا ثبات د پاره چه د آرائش خیال د فائدی په خیال مقدم دی، مثالونه هم شته («کپتان سپیک» دا یو انگریز ؤ چه د افریقی د حالاتو د کشف د پاره افریقی ته تللی ؤ او په ۱۸۲۷ ع تولد او په ۱۸٦٤ ع کښی مړ شوی دی) د خپلو افریقائی ملګرو یادونه کوی او وائی: چه کله به آسمان شین ؤ نو دوی به د وز و د پوستکو څخه جوړ شوی کوټونه اغوستل او گرځیدل او گرزیدل به، مگر کله به چه باران ؤ نو خپل کوټونه به ئې وویستل او باران ته به یه داسی حال کښی چه ریږدیدل به لوڅ ولاړ وو، د وحشیانو د ژوندانه د واقعاتو طرز په دې خبره دلالت کوی چه زیب او زینت ترقی کړی حتی چه د لباس شکل ئی اختیار کړیدی او کله چه مونږ دی کار ته و گورو، چه په مونږ کښی زیات خلک ددې په ځای چه د تودو جامو څخه نفع واخلی، د نری و الی زیاته مینه لری او نری جامی خوښوی او د لباس د قطع سکښت زیات لحاظ کوی، کله چه مونږ گورو چه نن سبا هم زیات خلک پر مفاد اصلی باندی ظاهری شکل او صورت ته فوقیت ور کوی نو مونږ ته د لباس د یتی پیدا کولو د پاره یوه بله وجه او لیاره هم په لاس راځی.

حتی چه په دې وختو کښې په
غالبه موا قعو کښې د سړي
د سړیتوب د تمیز دپاره د عام
فهمو خلکو په نظر کښې لباس
ډېر لوی ممیز دی او ډېر خلك
شته چه سړی په سړیتوب نه
پېژني بلکه سړی په لباس پېژني
او دا راز خلکو دپاره د سړي
څخه د سړیتوب د معلومولو
معیار یوازې جامه ده. د دې عصر
ځینې خلك د سړي ظاهر ته
گوري که د سړي ظاهري بڼه
برابره وه نو دا سړی ډېر ه قدر
ور دی او که څه قدر ئې په لباس
کښې کمښت وو نو دا راز سړی
د هیڅ احترام ور نه دی نو ځکه
خلك د ظاهر بڼې جوړولو
دپاره د خپل مال یوه کافی برخه
پر ځان لگوي. نو څو چه خلکو نه
یعنی چانه .. ؟ بڼه ښکاره شي
او وښتیاني ... د خلکو څخه
پټ کړي ' دا کار که
د سادگانو د غلو او دپاره وي
خو درست دی او که عوام ئې چه
هر څوك په دې فریب رغولای شي
نو دا نامعقول نه دی ځکه چه هر
څوك ساده گان نه دي ځینې
خلك شته چه د ظاهر په نسبت
د حقیقت زیات احاظ ساتي وائي:
«په شملگیه دې شوم غلطه کوره
دې لاډم مور دی لنگ وهلي و»
مطلب دا چه په شملگـیه
د کور والا لنگ څوك نه شي
پېژندلای یعنی پر خپل ظاهري رو پاو
بڼه هر چا ته دو که ور کول د خپل ځان
رسوا کول دي هو ! زه وایم
هر څوك باید د خپل حقیقت په
مقدار خپله ظاهري بڼه تازه
او غوره کړي او د بل چا د
ظاهري غوره بڼې کور کورانه
تقلید و نه کړي ځکه چه نتیجه
ئې خجالت ده ' خو دغه چا
دپاره چه د خجالت په مفهوم
او معنی پوهیږي والسلام.

ښاغلی محمد حسن ساپی:

محمد نور

محمد نور د محمد میرزوی
په کال ۱۲۴۳ هـ ش د سروبي
په وزبین نومي ځای کښې
زیږېدلی دی دی لا کوچنی
ماشوم و چه د ده کورنۍ له
وزبین نه ولېږدیده او د لغمان
دالیشنگ د دره ي په غازي آباد
نومي ځای کښې میشته شوه
نو محمد نور د ژوند ډېره برخه
په همدغه ځای کښې تېره
کړې ده' دی یو خوږ ژبی ولسي
شاعر او اشعار ئې ساده او روان
او په عامیانه محاوره بنا دي.
وائي چه د عشق او مینې
درد دی شعرو بلو ته اړ کړی دی
د ده اشعار زیاتره عاشقانه
او صوفیانه دي او د پښتو نخوا
په ټولو سیمو کښې شهرت لري
پښتني سندر غاړي تر اوسه د ده
په خوږو اشعارو خپل مجلسونه
تاوده ساتي او کله کله ډېره
جوشه په خپله هم د سندر غاړو په لړ
کښې که ون کوي ' د ده
هر شعر په موسیقي کښې ځانله
یو خوږ آهنگ او کمپوز
لري' دی د موسیقي
په فن کښې هم لاس لري او
زیاتره د موسیقي آلاتو په غږولو
پوهیږي مگر تر هر څه د شپېلۍ
په وهلو کښې بیا وړ ی دی
پاتې په ۱۹ مخ کښې

د ۱۸مخ پاتی

د ۱۳۳۵ هـ ش کال د کب په میاشت
کښې چه اعلیحضرت محمد ظاهر شاه
د افغانستان ستر تولواك لغمان ته
تشریف وړی ؤ دی ئی ځانته
نژدې وغوښت، پر ته له دې چه
یو موټی پیسې ئی د بخشش په توګه
ور کړې یو څه میاشتنی معاش ئې
هم ورو تـا که. د اعلیحضرت ته
سمدلاسه په شعر کښې دیوزړه
وړونکی آهنګ او آواز سره
هر کلی ور کړ چه د شعر یو څو
بیته ئې دادی :

کوچ دی و که له کابله
مشر قی کښې شوی دا خله
کل اسلام دې په د عادی
په شیر ییو مهر با نه
ته سلطان ئی ظاهر خا نه

دادی او س دده د کلام د نمونې
په حیث د غه لاندې چار بیته چه په
یو ادبی صنعت متصفه ده هغه
دا چه د چار بیتی په و یلو او
اوستلو شوندې نه سره لګیږی
او دپښتنی سندرې په د و همه
برخه کښې هم چاپ شوی ده
دا ته را اخلو :

زنځیری چاربیته

ښه سینه، رنګینه، سنګینه د لیلې — شین ئې خال دی دلال، دادی حال، د لیلې
قلندر ستا د درهر سهر دی جا نان — تیك دی سر د سره زر، ښه نظر د جا نان
خزانه نازدانه جا نا نه که ګیلې — ښه سینه، ر نګینه، سنګینه د لیلـې
تن ئې شال دی کشال زانګی خیال د لیلی — شین ئې ـال دی دلال دادی حال د لیلې

* * *

ښه غریـه دا ګریـه ښه دریـه ئې د سر — رنګ ژیریـه سرې کړیـه، شال شریـه ئی د سر
سخت کینه، زنا نه که آئینه تجلې — ښه سینه ر نګینه، سنګینه د لـیلـې
ته هر حال کړی جنجال تل دباره ګیلې — شین ئې خال دی دلال دادی حال د لیلې

* * *

له شیطان، سا ته ځان چه اسان دی شی کار — هر انسان چه خزان شی اسان ئی شی لار
اګـا نه، د بګا نه، ا با نه ځان تلی — ښه سینه، ر انګینه، سنګینه د لیلـی
آس دې نال کړه الحال څه کړې حال تسلې — شین ئی خال دی دلال، دادی حال د لیلې

لیکونکی څرګند «ننګلامی»

د تعصب حقیقت

په خبرو اترو کښې مونږ تل د تعصب په باب ځینې خبرې کوو لکه داچه: (« فلانکی متعصب سړی دی، تعصب ډیر بد دی، سړی باید تردې اندازې پورې تعصب ونه لري ..... او نورې داډول بیانات داوریدلې او رووي) آیا حقیقت رښتیا همداده؟ یا زمونږ دغه تعبیرات او تلقیات حقیقت ته نژدې دي؟ یا داچه اصلي موضوع څنګه او په څه شان ده؟ زه وایم حقیقت به داسې نه وي چه ګوندې تعصب دې بد وي او ښه نه دي یا داچه د تعصب داوریدو سره ولولو اره وبو ګنبږو او پرته له غور ورته د بد او ښه شي نه دي لقب ورکړو او داځکه کوم وخت چه مونږ بل ته د تعصب نسبت ورکوو که ښه ځیر شو زمونږ دغه راز تلقیات او تعبیرونه دبل شخص په باب هم د یو ډول تعصب له مخې کیږي یا په بل عبارت مونږ چه چا ته متعصب وایو په حقیقت کښې په خپله تعصب لرو نوځکه بل ته د تعصب نسبت ورکوو او مونږ ترې تعصب ځلې لو دلالت کوي.

داطبعي خبره ده چه بشر ځیني افکار، خویونه، دودونه، عنعنه، دین، مذهب، کلتور، ژبه قبلولی شي او د ځینو څخه ډډه کوي د ځینو اخذ او تقلید کوي او ځیني بیا له ځانه ایستله کول غواړي

د پر مسلمانان د نړۍ په مخ ژوندون کوي مګر پښتانه مسلمانان هم تر ټولو ښه ایسي ځکه پښتون یم او پر پښتو پښتنواله ویاړم یعني سړه دد چه مسلمان یم خو چه د پښتو نولۍ مسئله راغله پر پښتنو به د هر څه نه د مخه د ډیر م پښتو او پښتو نو اله به غواړم تا سو ورته ښه وایاست که بد خوزه پر دغه رنګ لتاړیم دلته و لیدل شول چه انسانان د یو مفکورې له مخې یوې ټولنې ته ځان منسوبوي (چه ددغې مفکورې مؤجد او باني «تعصب» دی.)

او بیا پر هغې ټولنې لاویاړي هم دپخوا نیو زمانو نه بشر په همدغه لار روان دی او کړ ودغه کار کړېدی او کوي ئې د هیوادونو موجودیت او داقوامو تاریخي ممیزات د همدې تعصب لوی دلیل دی او که دې تعصب دوکړ و به منځ کښې وجود نه درلوده ای نو هغه وخت به ملت او ملیت، وطن پالنه او ناموس ننګ او غیرت او د هیوادونو ترمنځ سیاسي حدودو او بیلو ونکو کرښو وجود نه درلوده ای د هیوادونو او ممالکو تر منځ کلتوري او نژادي توپیر همداد تعصب نتیجه ده د تعصب غایه دځان بقا او د خپلو نوامیسو ساتنه ده په دې اساس زه دغه راز تعصب خوښوم ځیني ئې د طبیعت او خوی سره موافق وي او ځیني ئې د شؤ نانو سره بیخي مخالف وي همدا سبب دی چه وګړي له یو راز خویونو سره مطابقت لري او د ځینونورو څخه کرکه کوي نو دلته ګورو چه خود به خود له یوه عادت یا یو مسیستم یا یوې

آیدې سره منښه، مطابقت راغی او د بل شخص کرکه، انزجار، ځان ژغورنه راغله چه همدا شی مونږ تعصب بولو او بیا ئی پر تعصبو بنا «اوس به دې جبری نه راشو چه تعصب ښه دی که بد؟؟؟ تاسو سره هرځواب چه دی وی به خو زه د تعصب خوا ته میل لرم یا په بل عبارت زه ځان ته متعصب سړی وایم داځکه چه زه د اسلام مقدس دین ترنورو ادیانو غوره او ښه گڼم او ځان د مرگه پورې پرهغه پابند ساتم نو پدې اساس زما تعصب یو حتمی کار شو او که دغه تعصب خدای «ج» دې نکړی له ما څخه ورك شو یا هیسته شو نو بیا به زه هم داسې پاته نه شم مسلمانی به هم رانه و کوچیږی، وائی چه بشر د یوه پلار (آدم ع) زامن دی یا په بله نظر په بشر د بیز و نسل یا د جامنك بقه تکامل دی په دواړو صورتو کښې بیا هم بشر یو د بله سکنی وروڼه شول مگر زه ټول بشر د اسلام دپیروانو غوندې نه خوښوم زه په انسانی ټولنو کښې د دی ډول تعصبونو طرفدار یم که تعصب نه وای نو اوس به دمځکې پر مخ د هیڅ ملیت او قومیت، ژبه او کلتور نوای پاته زه تعصب د قومیت او نو امیسو د پرځای ساتلو یوالځینی وسیله بولم ان تر دی چه تعصب په خوراك، څښاك، اغوستن کښې هم گټور گڼم او که دغه تعصب نه وای نو اوس به مونږ هم موږگان، چنډخی، خوگان او نور مردار او حرام شیان خوارهٔ پښتنی لباس به هم ادو وجود نه درلو دای پښتنی تهذیب به هم نهٔ یه هره خوا چه چا کښو لو پرهغې به په پټو سترگو روان وای په پر دیو او غیرو تهذیبو کښې به داسی لاهو شوی وای چه ځان به رانه ورك وای (زه هغه ځوانان نه خوښوم چه ځانونه منور او روښن فکره هم بولی او تعصب نه کول په هرشی کښې د تنور سمبول د تعلیمیافتگی معیار او درسیدلو مارك بولی.) چه د تعصب سره تعصب کوی او پرته له کوم تفکر او تعقل د ځینو ملگرو په اصطلاح د خو محدودو فورمولو په زده کړه سره په پټو سترگو په سطحی او سرسری نظر همدا ناری وهی چه:

تعصب څه معنی لري؟

دومره تعصب څه بکار دی، همدا تعصبونه دی چه مونږ ئې د مدنیت څخه بیرته پاته کړی یو...... پدی باید اعتراف وشی چه هرشی او د ژوندانه د ټولو اړخو او شیانو سره تعصب بکارنه دی لکه ځینی خلك چه نظر به لری او وائی: «رادیو، موټر، توکر» خود فرنگیانو له خوا جوړیږی او مونږ ته د دغو شیانو استعمال نه ښائی دغه راز تعصب رښتیا ناوړه، بد او تباه کوونکی دی او په نتیجه کښې د قوم د پسماتی او وروکید و باعث گرځی

د پښتو ټولنې په تشکیلاتو

کښې د تصحیح د څانګې تشکیل

پښتو ټولنه چه لسانی او ادبی چوپړ په غاړه لری او د دغه عالی هدف د سرته رسولو د پاره د ۱۳۱۰ نه را په دې خوا د اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید په اراده په مملکت کښې تاسیس شوې د یوه نشراتی ګراف له مخې ئې تر اوسه (۱۲٦) راز راز پښتو کتابونه نشر کړی او د ژبې د ذخیرې د راغونډولو په لار کښې ئې ښائسته ښه پرمختګ کړی دی.

د غې علمی او ادبی ټولنې په تېرو وختو کښې د خپلو نشراتو د کتنې او لیدنې د تصحیح او مقابلې د طبع او نشر د پاره د صحافت په نامه یوه څانګه لرله چه د هغې څانګې له خوا د کابل مجله هم په دغه اوسنی تقطیع (۱۰۰) صفحو کښې په میاشت کښې یو وار خپریده، خو د وروستیو کلو په تشکیلاتو کښې دغه شعبه د پښتو ټولنې له تشکیلاتو څخه وابستله شوه او ځای ئې یوازې کابل مجلې ته پاته شو البته کله چه د غه شعبه

مرام

د پښتو ټولنې له تشکیلاتو نه وونه او په ځای ئې صرف د کابل مجلې میاشتنی انتشار په میاشت کښې دوځله شو، هغه هم داسې چه حجم ئې له «۱۰۰» صفحو نه «۵۰» مخو ته راولوید په دغه وخت کښې د پښتو آثارو د طبع او چاپ کار هم څه شانسست او کم شو او په یوه مطبوعاتی کال کښې به ئې ایله یو دوه دری یا څلور کتابونه چاپ ول، په دې وختو کښې چه یوه خوا د پښتو آثارو د چاپ او د خپرې ضرورت شدید شوی او له بلې خوا د دغه نقص ستې ته چه هغه د چاپ او اهتمام د یوې مسئولې شعبې نه لرل ؤ د غه ټولنه ښه تر ملتفت شوه نو ځکه ئې د ۱۳۳۵ کال د جدی په میاشت کښې د پښتو ټولنې په تشکیلاتو کښې د ننه یوه شعبه د تصحیح په نامه پیشنهاد او د دغې ټولنې دواکمنې جرګې په تصویب او منظوری رسیدله، دغه شعبه د «٤» تنو غړیو نه جوړه او د جدی په ۱۸ ئې لاس په کار پورې کړ.

د تصحیح د څانګې د تېرو ودرو میاشتو د اجراآتو لنډ راپوټ

د دغې شعبې وظیفه د پښتو آثارو تصحیح، چاپ او د صحافت مراقبت و، د دغې شعبې سره د تېرو کمو و سائلو، د دنی وظیفې د ژمې په لنډو او سړو ورځو کښې په تېره په مطبعه کښې (د مطبعې د آمرینو او منسوبینو د پراخې تندې او ښې وضعې با وجود) د یوې اداري د پاره د ناستې ولاړې د مناسب او یوه ځای نه لرلو د مشکلاتو سره سره «صرف د ژبې د ملي خدمت په حوصله» دغه کړا نه او دقیقه د نده په ښه شان تر ننه اجرا کړې او کوی ئې او هیله کیږی چه د دغه نوی کال په اوږدو او مساعدو ورځو کښې به له پخوا نه زیات فعالیت وکړی، «که خدای کول»

د غې شعبې په دغه څوور ځې د پاسه تېرو درو میاشتو کښې دغه لاندې کتابونه تصحیح، تدقیق او چاپ کړی دی:

۱- کابل مجله هره میاشت دوځله په پنځوس مخو کښې وخت په وخت چه یوه ورځ هم

پاته په ۲۳ مخ کښې

پاته په ۲۳ مخ کښې

ښاغلی جالوان

د بیدیا ګلان

شمروز بابا به هر کال په زیر ګه میاشت کښې بودروند خیرات کاوه سبز کال هم دشمروز باباد کور په لوی انګړ کښې یوه زوړ ورمیله لګېدلې وه دخیرات دپاره ئې یو دوه بادرې نه بلکه امانی پنځه مېښې او پوره شل ګډان حلال کړی وو مخامخ دیوال سره بیشماره دېګونه پراوړېراته و. دټول کار و دشمروز بابا ګن یاران دوستان او خپل خپلوان راغونډ شوی وو او هرچا لکه ددیوانو خپل خپل کار ته مټې نغښتې وې. چا مسالې تکولې چاورېجې پاکولې چاغوښې پریکولې — چادا وبوډک منګی راچلول ــ څوك لرګو ماتول ونه ورلاندېوتې وو او چا به د ډېګو نوتداورسما وه دغلمو توقي نقالی او خرمستې هم په کښې رواني وې او چه مو نږ په ځان پوهېدو نو بیا نمر خپله رڼا چاپیره په دنیا خوره کړی وه. ـ نابیانو کولالانو او اشپزانو ددېګو نو دپاسه غټ غټ خانکونه په اورو کېلك وروستی وو. ـ چه وریجې دم شی ـ

مونږ دخان بابا د کور په ارت بیرت انګړ کښې د ری او نغرونه سمول چه باهر دفقیرانو غریبانو ـ مسکینانو او بې وزلو شوراوزوګ موپه غوږو نو ولګېد ـ خان بابا راته غبرګړو چه بچیه! ـ په ځوانۍ دې برکت شه — ددېوډۍ ورلرې کړه او دغو غریبانو ته ووایه — چه راځی ـ او خپله برخه خیرات وړی. خان ګل وویل: «ددیوډۍ ورچه مې لرې کړو ـ نو څه ګورم چه باهر په لویه لارکښې په سوونو خیرن ځیچن ـ په بدحال او بده ورځ ماشومان شل ګوډ ړانده ــ مازوره ــ سپین ږیری او ځوانان ولاړدی چا چه غوښتل ـ چه هم هلته په لویه لار کښې د سخاو ګندو وېشلې خوراته کښېنی او د خیرات وریجې وخوری ـ هغوی مو هم هلته پرېښودل ـ ته کښېنول ـ اونور دصیب او تقدیر نا ترسه څپېړو

دد «۲۲» مخ پاته

له ډېر وخت څخه نه ده تر ‌سره شوی.

۲- د منطق کتاب په منا سبه قطع (۶۰) مخو کښې

۳- د افغان قاموس سل ورو ستی صفحې صحافت او تجلید ئې.

٤- پښتو نثر ونه په برابره قطع (۱۶۰) مخو کښې

۵- د بینوا پریشانه افکار په ښکلی قطع (۶۰) مخو کښې

۶- نری یه (۲۰۰۰) کاله کښې په ښه قطع (۱۷۰) مخو پوری

۷- دا فغان قاموس دوهم جلد په پخوانی قطع تر (٤۰۰) مخو پوری

۸- د حنان د یوان تر (۸۰) مخو پوري

دا شعبه د خدای په فضل ورځ په ورځ دخپلو نشراتو په ساحه کښې دتجربې او ذوق په برکت دزیات ورانندی تنګ احساس کوی او هره میاشت د خپل کار نتیجه د کابل مجلې په وروستی پښتی کښې چه هغه د یوه نوی اثر دراوښکلو نه عبارت ده د خپلو اجراآتو دریوټ په نامه د پښتو آثارو علاقه مندانو ته وړاندې کوی او هرچا ته ددې شعبې دحساب و کنترول طریقه ښئی ـ دخدای په فضل

دتصحیح څانګه

وهلی بل لاس ته نه ناست، که اګر
وار په وار را نلل. چا به څولۍ
را و ړاندې کړه. چه ور یې
ور له یې کښېږي وا چوو. چا کټو ری
راوړي وو. د چا په لاس کښې
وړې وړې شکرې وې. او چا
د خیرات ورېجو له د خاورو
کنډولي راوړي وو. خانګل
و ویل: «خیرات ګړو او له
د خاورو نو په پلیسکو. د قمیصونو
په لمنو. په ګټورو. او شکر و
کښې د خیرات ورکولو کار
ښه په درز روان وو. چه په دې
کښې قربیا د پنځوس کالو
د عمر یوه بوډۍ ماته را نژدې
شوه. په لاس کښې نیولی مات
کنډول ئې ماته را وړاندې کړ او
چه خدای دې د ځوانۍ ارمانونه
ورنه کړي. په دې کښې یو موټی
ورېجې را کړه. د خاورو مات
کنډول په دې کښې څنګه
ورېجې در کړم.
بوډۍ را نه و ویل: «بچیه ما خو د لته
د ګیډې تنور ډک کړ و. - و لې
پېغله لورمې نا روغه پرته ده.
راتلی نه شوه. په دې کنډول
کښې به هغې له لږې بوسم»
«لور د کوم ځای ده؟».

«د خاتو خیلو - د نواب کا کاد کور
خوا ته په جونګړه کښې»
«خدای دې زړ روا خلی. چه غریبه
په آرام شي»
خانګل و ویل: «ما د بوډۍ
نه تپوس وکړ. چه ولې مورې
ته پخپله لور د اسې تنګه ئې. چه
د مرګ سوالونه ئې کوي»
بوډۍ و ویل: «هو! بچیه مرګ
به ئې پرده شي. د سر سوری
خو د پره لو یه خبره ده. زه
دوډۍ نه مومم. د لور علاج په څه
وکړم. چه روغه شي» خانګل و ویل:
«ما ور ته د پر تو منګو نه یو
د خاورو غټ کنډول را واخست
سر ترسره مې ور یجو نه ډک کړ و
او بوډۍ نه مې و ویل. چه دا دی
دا واخله! چه لور دې نن ښه په
مړه ګېډه ورېجې وخوری»
بوډۍ کنډول واخست. ډېرې
دعا ګانې ئې وکړې. او په خپله
مخه روانه شوه!!
«په خیرات کښې د میلمنو.
فقیرانو او غریبانو - بې وزلو او
خیرات ګړو غوبل تر ما ښام
پورې روان وو. - مونږ تول درسته
ورځ لکه د لیونو بومخیز کار
شور اوزوږ. مونږ او ترونو

درمه پر پستی وو. او ایله د
ماسختن د مانځه نه ورو سته مونږ
وزګار شو او خپلو خپلو
کورونو ته لاړو»
خانګل و ویل: «زه خو کټ نه په ر سیدو
برا برا پر پوتم. او په بالښت د
سر لګو لو سره سم مې سترګې
ورغلې. خدای خبر چه دو بده
ګید و څومره وخت اوړید لی
وو. چه خوب مې ولید. چه هم
هغه رنګ لکه د ورځې د خیرات
د یګونه باندې دي. بو پلو د کښې
ولس سپین رو بې خلک دي.
چه په مخه د خان بابا کاله ته
راچلیږي. او بل پلو خیرات ګر.
مسکینان او غریبان دي.
چه د خان بابا د کور مخ ته په
لو یه لار کښې را غو نډ شوي دي. په دې
کښې هم هغه د مات کنډول
خاوند ه بوډۍ سا نیولی زما
خوا ته را غله او را ته یې وو یل:
بچیه! مولا دې د سرې ډولۍ
خاوند کړه. خپه کیږه مه.
خو د دې کاله خاوند چه نن
د مړه درو ند خیرات کړی دی.
ده ته و وایه. چه ستا خیرات نه
قبلیږي. ځکه چه د خدای حکم
دادی. چه خیرات دا سې په

پېښه خوله ور کوی چه دیوغوږ نه یرېږي بل غوږ خبر نه شی ــ ولیخان بابا داخیرات دخدای درضا دپاره نه ــ بلکه د خپل نوم ــ مخ ملازی او بابرانو اشنا بانو باللو دپاره کړی دی ــ او څوك چه د نوم ــ ربا ــ مخ ملازی او خپل شهرت دپاره خپل زکوة ور کوی ــ دهغه ددی خیرات مثال دهغه خاوری دی ــ چه په کانی پر ته وی ــ باران پرې وشی ــ او اوبه ئې یوسی ــ دی خیرات له خوخان بابا غټ غټ خلك یاران دوستان او عزیزان راغونښتی وو ــ هغوی به قالینونو آرام کړسوا وصفا ستره درو کښېنوی ــ ستړی مشی نه و رته یخپله هم بابا هر ولاړ دی ــ او نور خپل خپلوان ئې هم ورته دروله دی ــ سپین څادرونه ئې ور ته په فرش غوړولی دی ــ اوبه ورته خلکو دشیشو په بلوری ګلاسونو کښې نیولی دی ــ د پیزار سمولو دپاره ئې خلك لاس په نامه تیار ولاړ دی ددی سپین روبو او شته منده و خلکو دلاس وینځلو دپاره صابون تودې اوبه، پاکې تولیا ګانی او دستمالونه موجود دی ــ او غریبان ــ دچا په نوم او دچا دپاره چه دا خیرات شو یــدی هغوی لکه دسپو باهر په کوڅه کښې ولاړ دی ــ یوه نیمه لــپه وریــجی ور له تاسو دا ســی ور کوی لکه سپور او نش ادوکی چه بنده سپی ته غور زوی ــ دغه و ګوره ــ چه یتیمان ــ بسیران کوندی او رنډې، د کورخاوندداخپل خپلوان څنګه بد بد رټی ــ څو مره سپکی سپوری خبری ور ته کوی. او ور ته وائی چه سپو! تاسو ماره نه شوی بیابیار اغلی! او وریجی زغلوی دلته ئې هم خوری او کور ته ئې هم دځان سره وړی ــ و ګوره!! داغریبان که په درو او قالینونو نــدوی ــ نوخیر دی دوی خو به موآخر په پوزو کښېنولی وای او کدا هم نه وای ــ نو دا په کوم ځای کښې چه دا بې وسه او لاچاره غریبان دوډی خوری ــ دغه ځای به موآخر لږ پاك کړی خو وای ولی افسوس چه غریب شوی دی غریب شته منداو پیسه دارو ته داسی ښکاری ــ لکه د ډېران خزلې:

خانګل وویل: ډېر ښه خبرو خبرو کښې په ژړا شوه ــ په مخ سرئې راکینښود ــ سرئې دځا نه شو کاوه ــ او چه یوه شیبه ئې ښه دسوز او ارمان ژړا وکړه ــ نو بیائی سراوچت کړ ــ او ښکی ئې پاکې کړی او وویل ئې: بچیه!! د کور خاوند نه وایه چه ستا خیرات چیری هم نه قبلیږی زما د پسرلی د ګلانو غوندی نازکه ــ ښائسته او ماه جبینه پیغله لور دا (۱۰) لسمه میاشت ده ــ چه ناروغه پر ته ده ــ د کور مالت چم ګاونډ او ګلی ولس دا ټول لــوی واړه ســهار مــاښــام شپه او ورځ

روڅت زمونږ تر ډېره جونګړي
په ورانډې تیرېږي راتیرېږي-
زما دلور سوی ناري- فریادونه
او زما ساړه ساړه اسویلي آوري-
ولې تراوسه په درونه هم چا
زمونږ دې څپرې او جونګړې
ته سر را ننه کړی نه دی - چه
ئې د خولې تپوس قدر له وکړی-
چه بوډۍ د ا پېغله جنۍ ولې
زګېروی کوی- خلك زمونږ نه
ویرېږي چه که دوی ته ورنژدې
شو، نو سوال به را نه وکړی
د دارو درملو دپاره به رانه پیسې
وغواړی - څه بیګار او خدمت
به را باندې وغواړی - ولې
دا خلك د خپل نوم - شهرت -
او مخ ملازی دپاره په سوونو
او زرګونو روپۍ په خیراتونو
لګوی - چه نوره دنیا پری
شاباشی ووائی - اوس خوخلق
خیر ذکوة هم په مخ ملاحظه
ورکوی - او اول داسی خلکو ته
سوال جواب وکړی. چه سبائی
څه په کار رانلی شی - او څه
حاجت ئې پرې پوره کیدی شی
چه په فلانکی ورځې زمونږ کره
راشی»، چه خیرزکوة درکړو»

خانګل وویل: «زه یوه شپه
او ورځ دخیرات هنګامو-
مندو ترړو او شور زوږ داسې
ستومانه کړی وم - چه د ځان
د حاله ناخبره پروت وم - په
خوب کښې د بوډۍ آوریدلو
خبرو راباندې غوږ ئې څیبز څیبز
کړو - توبې مې وښکلې- او په
دې کښې موررا پاڅولم - چه
زویه پاڅه! دا خود بره ناوخته
شوه چه پاڅیدم. نو دبوډۍ
خبرې رانه بیا بیا را یادیدې-
مخ لاس مې ووینځل- بیا په بیا له
چائی مې وڅکلې - او د بوډۍ
د جونګړې په لور روان شوم»
«لږ ساعت پس چه دځانوخبلو
د صوبیدار کاکا کور ته ورسیدم
نو دهغوی د کور خواته جونګړې
ته ورغلم - په جونګړه کښې
دننه چه مې وکتل نو څه
ګښ کړوپ مې په غوږو ونه لګید
آخر وروغوندې جونګړې ته
ورننوتم او څه ګورم !! چه بوډۍ
او لور ئې دواړه تکې زیړې یخې
کسکرۍ بې ساه او مړې پرتې دی
ما چه د بوډۍ په تندی لاس
کښېښود نو د لور د خوا نه ئې بوغت
تورمار شوه ئې شو، چه توپ ئې کړو
ما بې اختیاره چغه کړه - او زما
په چغه آوریدو په لار تیریدونکی
کسان جونګړې ته را ننوتل
او بیا دخلکو یو سیلاب وو - چه
جونګړې ته رامات شوه - دخلکو یو
درچك وو - چه جونګړې ته
راروان وو»

خانګل وویل: «بوډۍ او
پېغله لور ئې څنګ په څنګ
مړې پرتې وې - ما چه د بوډۍ
پېغلې او نامرادې مړې لور ته
وکتل نو دا وښکو باران مې
دستر ګو روان شو - او دغریبانو
ژوند ته مې پکر شو، چه دا غریبان
د دشت او بیدیا داسې نازك ښاپستې
او رنګین ګلان دی - چه
د چاخان - ملك - حاکم - نواب -
جاګیردار او شته منو په ګلستان
باغ او چمن کښې نه - بلکه په
یو بې خسمه او بې پرسه بیابان
کښې را ټوکیدلی وی، د ژوند
د نا کردو سیلۍ، بارانونه، یخ یخ
بادونه او بیرحمه طوفانونه پرې
راشی - او داسې په ناترسۍ ئې
ورژوی - چه نه ئې څوك د ښائیت
او دلربائی صفت او ستاینه وکړی
او نه ئې د ځوانۍ او پېغلتوب قدر،

ښاغلی برهیز:

زما قسم!!

دا د پښتون په پښتنوالی او همت کړم قسم
دستر «مهمند» بابا په دې عالي صفت کړم قسم

دی په پښتو پښتنوالی د قام په پت مین دی
لیډر د قام دی مبلغ په دیانت کړم قسم

ځلمی لیډر او وطن دوست محمد داود سردار دی
دا کبر نوم ئې کړ تازه په سیاست کړم قسم

چه داؤدي د ننګ نغمو ئې انګازې وکړلې
له درانه خوبه ئې ټول قام کړ لوا وچت کړم قسم

د قام خدمت ته چه په زړه کښې ارمانونه لري
زه د فاضل داوي په دغه عالي پت کړم قسم

چه ئې ترننه پورې وساته په آب کښې خپل ځان
هم د سعید صاحب د پوهې په ابهت کړم قسم

چه په هر ځای کښې ئې ستا په نازکخیالی شي مدام
د لوی ادیب مجروح کلام په حلاوت کړم قسم

چه ئې په مینه قام ته کړې خدمتونه هر وخت
بیا د صافي غلام حسن په صداقت کړم قسم

چه ئې د هر وښته په بیخ کښې سره لمبه ده د عشق
د شاعرانو د پاچا په ډېر الفت کړم قسم

چه د پښتو د ادب بڼ پرې شین سمسور ښکاریږي
بیا هم دده عالي افکارو په برکت کړم قسم

هم دردمند زړه د «بینوا» د قسم ورکړمه
ځکه دده پریشان افکارو په صحت کړم قسم

د پښتنوالي په پت ټینګ دغه فاضل ځلمی دی
دی په نغمو کښې ئې ډېر سوز و حرارت کړم قسم

فاضل پژواک خو پیژندلی دی تمامې دنیا
هم به دده په لوړ قلم لوی شخصیت کړم قسم

دا سپین سپېڅلی بې ریا فاضل ترکی زمونږ
لږي لوی لاس په فلسفه او ثقافت کړم قسم

چه مبلغ او وینوونکی د ژلمي یاد یږي
اوس دخادم په بې ریا صحیح فطرت کړم قسم

دا په دوستۍ کښې خو صادق او وفادار ښکار یږي
دا درښتین په ملګرتوب او متانت کړم قسم

د ټرښه عالم دی خو افسوس چه چانس خطا زي ورنه
د خوزیانی فاضل په ډېر د ډېر مشقت کړم قسم

دا چه اوصاف ئې تول دډېر ستاینې وړ بولمه
د هاشمي بسیا په خوی او نجابت کړم قسم

چه په ورد ګو کښې کوم وردی چه اشنا شی دچا
دسلیمي فاضل په دې ټینګ رفاقت کړم قسم ۷۵۰ بل کال

دا جلالی فاضل مشهور او پخوانی ادیب دی
شته په دې لار کښې دانا رو ئې حجت کړم قسم

چه ئې پښتو ته هم خیل وار سره چوپړ وهلی
پېژني هر څوک کشککی مرحوم صفت کړم قسم

چه د یاراس کاله ئې خدمت علم وعرفان ته وکړ
مرحوم فاضل قلعتکی په ډېر زحمت کړم قسم

ها جمالی عظمت به بیا په کنړ و نورا شی
چه کړی پیدا داسی «غمخور» په تربیت کړم قسم

فاضل الفت کنړ د شعر ښه ځانګو بللی
نو دی لازم هرې دری په کیفیت کړم قسم

چه د اخلاص مجسمه ځای ددمی دی زمونږ
لیوال لیوال دی دلیکوالو په فطرت کړم قسم

داد همدرد د همدردۍ افکار مې ډېر خو ښیږي
چه دی طالب دوینیدودی په سرعت کړم قسم

دپښتنوالی لوړ جذبات ملیا صافی سره شته
دصابر خان دزړه دسوز په حرارت کړم قسم

محمدطاهر ، ګلشاه، ضمیر داسې نور ډېر دي سا پیان
ددې لوی قام په استعدا د او لیاقت کړم قسم

سپین سپېڅلتوب چه د موسی شفیق را یاد کړمه زه
غواړمه تل ددې زلمي په پاك طینت کړم قسم

دننګرار ی محمد ګلا ب قر یحه ستا یمه ډېر
خیال ئې پرواز کړی ډېر اوچت په نزاکت کړم قسم

د مو اوی ا حمد ی هلته به ستا یمه و کړم
چه نه کړی حق کله پایمال په قضاوت کړم قسم

که کاموی په طوفاني بېړۍ کښې سپور دی څه باك
شکر چه کړای شی د محیط مطا بقت کړم قسم

د بېسودوال «ملنګ» ملي جذبات ډېر چا خوښ دي
خوږ ه دد ه طغیا نی طبع په قوت کړم قسم

که ظرافت او رنګ په رنګ څوك تحلیلو نه غواړی
هم د فا ضل «سیفی» په دې مها رست کړم قسم

زه د ملګر و په خوا صوبم پو ه شو ی لږ څه
هم د جرار د ظرا فت په مهار ت کړم قسم

ځلمی شاعر او ښه لیکوال بختانی ورور دی زمونږ
د پرمې لیدلی دی آشنا کښې اهلیت کړم قسم

فهیم زلمی دی ښه شاعر او استعد اد لر ی ښه
هم به دده په ډېر اخلاص او محبت کړم قسم

که د ګلچین د ګلو د که ځولۍ خوند کوی ډېر
دا چه شی «مراوی» د ګلونو په حسرت کړم قسم

د چپر ها ر دپاس باندی په سر «بیداره» کښېنه
بینا طا هر ه ستا به دغه ر فا قت کړم قسم

هم دهوسا قر یحه وړ ده چه رایا ده کړمه
هم د «صادق» شریف صابر په صداقت کړم قسم

دا «صداقت» او صدیقی او هدایت مولو یان
غواړی چه لوړ وی د پښتون شان و شوکت کړم قسم

چه له سیالکوټ څخه تر دېر د پښتون غواړي مدام
د فاضل سیال د قاموس لي په دې نهضت کړم قسم

«بزگر» ته پښتانۍ چه وطن کښې کرد گلو کړي
د «لونګین» د قربحې په ښه نزهت کړم قسم

نن د سکوت مهر بلبل ولې په خوله ایښی دی
طوطي هم لاړو سردرو نه په سرعت کړم قسم

د پښتون دردمند زړګی درد هم معلوم شوی را ته
دادې «مراد» د بې خولې توب په ښه خصلت کړم قسم

د احمدین زر جان خانشاه مهتد بن هم یادوم
د محمدالدین او محمد ګل په امیت کړم قسم

جوهر زلمی دی بهسود وال ښه قریحه لري هم
د غني ګل د شاعرۍ په لطافت کړم قسم

دانشگر هار د پښتو نخواداد بن یاد یږي
از ما یښت شوی تول ځامن ئې په خدمت کړم قسم

د پکتیا په تول ځلمو کی ننګ میړانه شته دی
خو پکتیا نی د نظم نثر په قوت کړم قسم

اتمان زلمی د سویل خواداد ستوری بریښي
هم به دده د ملګر توب په متانت کړم قسم

ببرك ځاځی هم یادوم په لوړ او صافو سره
مادی لیدلی د ا زلمی په شجاعت کړم قسم

«فقیر» فقیر دی په ځاځو کښې خوئی زړه غني دی
نوی شاعر دی خو لری پوره قدرت کړم قسم

خدای دی زرغون کړي پکتیا کښې د ادب ګلونه
چه دماغونه کړي معطر په فضیلت کړم قسم

هاشم ترکی افضلي لري د احق چه یاد شي
نینګ ملګر توب لري دده په بشاشت کړم قسم

په قطغن کښې لومړي ستایم د نا شر کور ئې
بیاد عسکر پښتون په طبع په نوبت کړم قسم

په کندهار یانو کښې رشاد فاضل ښه لوی شاعر دی
لومړی دده په لوړه طبع او فطرت کړم قسم

«جانان» مخلص «بابا» سربازی «ننګیالی» شاعران
وجدت «مسلم» لحلمی اخلك به شعری بت کړم قسم

اوس بامیزی «شیدا» خزان او شادان ستایمه تول
دسعید ی او ایوبی په دی شهرت کړم قسم

دا نومیالی پښتون به هیڅ کله زه هیر نه کړمه
چه دی «طالب» دی تول پښتون ته د وحدت کړم قسم

چه «ژواك» بریان دقام په غم شی لیونی عالمه
له دې «خواخوږی» به څوك ولی کړی نفرت کړم قسم

په قندهار کښې فاضلان ادیبان ډیر دی شی ډیر
پوهاند ګداشی په علمی حقانیت کړم قسم

پښتونستان کښې به حمزه «رسا» طوفان د پر ستایم
أجمل ختك «فدا» دطبعی په قوت کړم قسم

فاضل خلیق «او شنواری» اپریدی «ستایم» همیش
دسمندر «اثر» مفتون په منزلت کړم قسم

اوس هلالی «نوا بزاده» شاد محمد ستایمه هم
هم د ختکو د کهول په قدامت کړم قسم

چه نسیم «والوزی جلبل» سندری خوند کوی ډیر
خو د ساقی «جلیا» شرر په حرارت کړم قسم

ما دقمر لحلمی سندرو خوند څکلی دی هم
«همیش» لری قوی احساس به ملیت کړم قسم

خیال و «غمګین» خادم «شبنم» شیدا «بزمی» یادوم
«وهمی زل» غواړی اتفاق په ډیر حدت کړم قسم

دی گلستان عبدالله جان فرید خسرو شاعران

د باچا گل نیازی سندرو په سبقت کړم قسم

دی خدائی خدمتګاران د آزادۍ پتنګان

د باچا خان دفر با نیو په عزت کړم قسم

خان غنی خان به څنګه هیر کړم د ادب په میدان

چه علامه نه ئی کتلی په لعنت کړم قسم

عبد الاکبر په شاعرۍ کښې اکبر لاس مو ندلی

د سپینی زبری په تار تار ئې په حرمت کړم قسم

زه د «پرهیزه» سپینی سپینی وایمه هر وخت هر چا ته

چه مې ور بولیء په هاغه خوی و خصلت کړم قسم

نه یم غوږ مال نه مې دلاسه خوشامندی کیږی

د غوږ مالانو په پستۍ او رذالت کړم قسم

اوس د خالق په درست خلقت او کائناتو قسم

په کوز او پاس هم خواوشا په شش جهت کړم قسم

چه د پښتو او پښتنو الی نه به لاس وانخلم

په بې ننګۍ به د هیچا احترام پاس وانخلم

خدای چه سپیري خاوری د خپل وطن سره زر ګڼمه

دا کانی کانړی د وطن د زر ګوهر ګڼمه

مال مې ترې ځار اولاد مې ځار هم د تن و بنی مې ځار

خو به پری نه ږدم غلیمان چه د بخوا بدو کړی ځار

وطن زما دین و ایمان خاك د نیکونو زما

مینه ئې شته د ټول وجود په سلولونو زما

ذرې ذرې مود وطن دی د نیکونو خاورې

دا د پوره پیانو ابد الیانو د سرونو خاوری

د پښتون خاوره ده په دی کښې به پښتون اوسیږی

د لیلی غیږ کښې به «پرهیزه!» تل مجنون اوسیږی

ښاغلی پسرلی

غیرپرستانوته

«مه بایله ځان لکه هنداره په ښکلا دېر دو(۱)
له زړه اوستر ګو څخه پر یمنځه سودا د پر دو

اورد حرم د مرغګا نو له شپیلکی نه و ا خله
وسوه هاځاله چه دي ایښی ده په خوا د پر دو»

په خپله مځکه کښې که زغم شي در نه ګل جوړېږ ی
که د ی خو ند ساتي مه ګډېږه په دریادېر د و

ملی خوبونه، خپل دودونه، قومی ر نګ و سا ته
لکه مېږ ی مه و ر کوه ځا ن په هو ا د پر دو

په ا شا رو د ستا ر و ئی هوا ئی نه شي ته
د محبت ا کسیجن نلر ی د نیا د پر د و

په ظاهری ر نګ ورو غن ئی چه و نه تر ي ز ړ ه
چه لکه ما ر له ز هر و ډ که د ه لیلا د پر د و

هو ښیار دبل په ستر ګو عیب دخپل ځان لټو ی
نه له خپل ځانه بېګا نه کړ ي تما شا دېر د و

راځه ،راځه له زړه نه هېری کړه د چا نس خبر ی
په خالی جیب مکړه درو م او د فر ا نس خبر ی

وطن خد مت ته ئي لو ی کړ ی.هوسو نه مکړ ه
چمتو شه کـار ته دتا زه مود و، فکر و نه مکړ ه

دا مر یکا دسیا حت لپا ر ه چا نس مه غو ا ړه
دخوا ر و طن په آ بر و با ند ي عیشو نه مکړ ه

مر ا دله څو ګـاله تحصیله دي هو س نه وو څه
د خپل هوس لپا ر ه مه ځه خیا نتـو نه مکـړ ه

و طن ر و ز لی ئی د قو م د خد مت د پا ر ه
د شپېز ګـز پخو موتر و نو، ا ر ما نو نه مکړ ه

پاتې په ۳٤ مخ کښې

(۱) دسردوه بیتونه دحضرت اقبال له اشعاروترجمه شویدی.

لیونی اوبه

ده وویل : وئې څښبه !- **ما**وویل نه ئې څښم .

ده بیاتکرار کړه- **ما**بیا انکار وکړ .

دی تینګ شو - **زه** هم تینګ شولم.

لەهمدې وخت نەډیر کلونه اومیاشتې تېرې شولې.

بیا په مخه راغی اووئې ویل : **ئالانەدې څښلی** ؟

ما وویل: بە!

ده وویل: له هغەوخت نه ، تراوسه همدغه اوبه څوواری بخارشولې ، بخار بیا په اوربځ بدل شو، اودڅاڅکو پشان دځمکې پرمخ راتوی شو، مګرتەلاهغەئې ؟

ما وویل :هو!

ده وویل: ابن الوقت نەئې.

ماوویل: **څوك** یم؟

دهوویل: دوخت پلار !

ما وویل : زه ؟

دهوویل : هو! ته

زهحیران شوم اوتر ډیروخته همدغه شان حیران پاتەوم- بله ورځ بیا په مخه راغی او، وئې ویل : تەلا دوخت زوی شوی نه ئې؟

ماوویل : پلار زوی کیدلای شی ؟

پاتەپه ٣٥مخ ګنبی

د٣٣مخ پاته

دانګر بزیەپه زده کولو ، دلباس په تغیر
تەانګر بزنەشوې څپی کرکه، لەپښتونەمکره

کەدی کوروران وی مېرنی‌شه پەزیار ئی کړه جوړ
خارج نەټپښته کەهو ښیارئی لەجنونەمکړه

تحول نەدی دیر دوپەزړو فخر کول
ماغزه بدل کړەپەشاپوباندی‌فخرونەمکړه

ستا کامیابی دەچه لەوروړسره ورورې وساتې
ژوندی جهان کښی‌دی‌پښتو، پښتونولی وساتې

ده وو یل : که ځوی نه پلار کیدلای او پلار نه ځوی کېدلای - د همدغې د نیا کې تنا وونه به لنډ شوی وای .

ما وویل: زه هم زوی کیدلای شم؟

ده وویل : تا ته نه وایم.

ما وویل : ولې ؟

ده وویل : ته زمونږ ددنیا نه ئې!

ما وویل : ما ته زما ځان راښو دلای شی؟

ده وو یل : هوا ته زمونږ ترجهان مشرئې .

ما وو یل : پوه نه شوم.

ده وو یل : ته نه شې پوهیدلا ی .

ما ځواب ور کړ - ستا کلمات نقیض را ته ښکاری .

ده وویل : پرخوله لاس !!

ما وویل : غلط وایم ؟

ده تکرار کړه «پرخوله لاس !!»

ما په اشاره وپوهاوه چه «ولې ؟ »

ده په ډیر تر یو تندی مخ رانه واړاوه او دسر په ښور بدلوئې پیل و کړ.

زه په خپله گناه نور نه شوم پوه - خو دومره می احساس کړه چه باید د خولې پرځای نو ر سرو ښو روم او بس .

ژواک

ما څه ولیده

ښاغلی لونګین:

ما زلفو تیاره خیال کښې رڼا مخ د جانان ولید

اند یښنې مې شولې د هرې لېونې مې ارمان ولید

تصور کښې مې د سترګو د ښو عشق خوږ لی

ما د مینې خموشۍ کښې د نوح (ع) هسې طوفان ولید

کله خاندی کله ژاړی کله کله هم پخسېږی

د یارشو خو کرشمو ته مې ژوندون نا توان ولید

چا سره به دا طاقت وی چه د مینې کو شیرمات کړی

ما یو ستا سترګې بیدا کړی چه مې څمکه اسمان ولید

بې پروائی هسې ویل که اقرار ئې د وفا وو

دا رزو په سمندر مې ګډیو نوی طوفان ولید

د ښایست د بڼ ما لیاره بوار هسې راښکار شه

التجا مې بس د غه ده که مې حسن عریان ولید

ربه ما خندنی نکړې چه په شا به شم له مینې

ما ئې یو مراوی نظر کښې نوی نوی جهان ولید

په ښکاره نظر ئې ما ته «لونګین» په باب کښې وویل

هر ساعت را نه خوله غواړی عجیبه مې داخان ولید

د مجنون ځنځیر به واچوی په پښو کښې
کې(۱) په غوږ تعریف د حسن افلاطون کړ

په یوه وطن کښې دوه سلطانان نه وی
داستا عشق می له بدنه روح بیرون کړ

چه په فکر ئې د خط د سبزې ولاړ م
لکه مغز د پستې هډ می زرغون کړ

په د ډېر وخت سره ورځی لبان د زخم
لګېدو د دوو مصرعو می ځیګر خون کړ

د جنت د ګلو بوی تری ځی حیران یم
چه می خلاص په لاس ګریوان د کوم ګلګون کړ

چه د مرګ وعده دی کړی وه «حنانه»
پر اقرار رقیب پښېمان دیار لیدون کړ

وجوار ته د مولی سردار قربن ولاړ.
چه مرغوب د کل عالمو په تحسین ولاړ

د هنر د علم کان د حیا بحر
په خلعت د نېکنامی ځه ښه رنګین ولاړ

په جیفه ئې د دنیا ځان آلوده نکړ
د عمل په صابون پاکه جامه سپین ولاړ

وسخا ته ئې حیران حاتم طی ؤ
تکیه ګاه د هر فقیر و د مسکین ولاړ

(۱) کې د که ئې مخفف دی .

فیض رسانه لکه نمر و کل جهان ته
مستقیم د شریعت حامي د دین ولاړ
په حکمت ئي افلاطون شاګرد د عصر
چه تقریر ئي وشیرین تر انګبین ولاړ
هر مشکل به حل کېده د سائلانو
سردار نه وُ د حضرت سلیمان نګین ولاړ
اعتماد باندې د کړوندي «حنانه»
چه سردار له دې دنیا نه په یقین ولاړ
زما امید وُ چه دلبر مې کړي فردا مې
هجران و کړه پیش دستي کړم ئي پخوا مې
و دیدن ته مې وُنش رمق را پاته
انتظار ئي د راتلو کړم بې رضا مې
طاقت نلرم و یار ته نژدې لیرئ
وصل و هجر ئي زه کړم جدا جدا مې
سره لبان ئي روح بخښي په دا عجب یم
چه ئي زه کړم د سر و لبو په دوا مې
هیڅ پروا بې پروا یار زما و نکړه
لکه شاه چه خوار سړی کړي بې پروا مې
هسې نه چه زه تنها مقتول دده یم
درست عالم ئي د ی د مخ په تمنا مې

لەرقیبە و فاکړی ترحد د پاسه
پەجفائي کړ «حنان» بې دستوو پامر
پەخندا دي د گوهر قیمت ارزان کړ
منفعل دي لبو لعل د بد خشان کړ
نوروز لفودي خراج لەچینەو اخیست
نوروستر گودي آهومځ پر بیابان کړ
ستا لە خط د پسرلی سبزه شرمیږي
پەعذار دي گل خجل د گلستان کړ
صفائی دي مخ لە نمرەپه زور یو وړه
پټ پە ابر ستا جبین ماه تابان کړ
چەئي نه موندە وصلت ستا دلبانو
دا یې دا لرمون لەوینو نه ډك پان کړ
ستا رخسار بیا څه وکړم نه پوهیږم
چەتصویر ئي په هنداره کښي حیران کړ
د گل رخو عشق کیمیاندە نو څه دە؟
چەئي رنگ زما «حنان» لکەزعفران کړ
چەپخوامي دي پەوصل کښي سرور کړ
هغه عشق دي هجران رابوري سور کړ
لە از لە ئي خوار کړی یم پو هیږم
پەنصیب چه مي ئي تارنگه مغرور کړ
پرهر ځای چه کښینم باخم آرام نه یم
محبت دي ځمکي مخ را تە تنور کړ

په شبنم که تازه کېږي د ګل پاڼې
زما د زړه زخم تازه ژړا ناسور کړ
زلفې وروځې خط وخال سره لښکر شو
چه بساط ئې زما د زړه را ښخه چور کړ
که ظاهر له خلقو خاندم غلط مه شه
دانار په دود مې زړه له وینو پور کړ
« جنان » کله غږاوه سر له فرمانه
چه آشنا ئې هسې دې له ځانه دور کړ
نه تنها بانو زما په زړه کاري ولاړ
د جفا په تېغ دې غوڅ د دې مرزي ولاړ
چه تاله ئې له یوسف سره ستا حسن
ترازو پهي آسمان ته مشتري ولاړ
ستا له غمه مګر نمر نه دی ناجوړه
چه مسیح ئې و دوا ته سفري ولاړ
دا لیدلې ئې غمزه ده ستا د سترګو
چه آهو له بناره کوچ وکړ بري ولاړ
چه مخې ئې جمال ستا د جمال نور
په ظاهره ګر زېده د بنا پېري ولاړ
رقیبان به دې او ګې کړم دم له دمه
که مې آه څه خو آسمان ته اثري ولاړ

د «حنان» قتل په تيغ د جفا مکړه

له بدن نه ئي سر په تشه دلبري ولاړ

د عشق کار چه مي د عقل په تدبير کړ

همګي واړه بي ځاي و چه ما خير کړ

د نا صح د پند دا ر و پر اثر نه کا

د صورت احوال مي عشق هسي تغير کړ

غير خيال مي کلي محو کړ له دله

پر صفحه د زړه مي ستا نقش تصوير کړ

څو تنګ نشم وچ هيڅو نه و نښا ن تم

چه دي بيا را نه تيار د غمزي تير کړ

دا بيا کوم صياد و ښکار ته را و نيږي

چه نخچير قالب تهي له که زهګير کړ

هم هغه ساعت مي روح له تنه کوچ کړي

که خالي مي ستا له خياله خپل ضمير کړ

چه د زلفو خيال دي څوک کا ليوني شي

ما «حنان» د دغه خوب دغه تعبير کړ

ښه ګلان له دي دنيا سره وو که سپين ولاړ

که رعنا و که زيبا که يا سمين ولاړ

د استوګي ځاي دنيا نده خبر شه

پيغمبر زمونږ خاتم المرسلين ولاړ

له دغه جامه هرچا دی او به چنبلی
نازولی خلفاء الراشدین ولاړ

نور به خوک شی پرداسینه بساندی پاته
چه اوی پیر دبغداد شاه محی الدین ولاړ

گل رخسار خوبان چه قدئې لکه سرو
هم ئې زلفې وې له تازه چین پرچین ولاړ

چه ئې ملا په عبادت لکه دال خم وی
دسکوت مهرئې پرخوله مزری ددین ولاړ

دقیامت خواری هورې ده خدای رحیم دی
له دې ځای «حنان» له یاره په زړه شین ولاړ

اوس باید چه قلم کړم له وینته جوړ
چه په کاږم حال دخپل صورت ناجوړ

په دولت کښې ئې دحسن ناامید یم
چه دوزی په حال نه خبر یږی موړ

چه پرواز مې دهوس پر مځکه وکړ
له حاصلو خالی ولاړم لکه پروړ

ژر په ژر لښکر دخط وربان دی وخوت
ساده رو به چه میدان په خپله خوړ

خدایه غوڅ ئې کړې دخپل کمان په توره
چه رقیب لری له مخا سره اروړ

د بوسې پر حال له حاله عاشق و وخې
بې ادبه شې پر وخت د خوراك وونه

زن «حنان» د خط له خضر سره ناست دی
نا خبر عالم ئې ولې بولی نووه

بو څه د بخت ساعت ؤ ما چه نقش د زمینې مل کړ
مجاز رانه په مهر هسې زبن د عشق دلدل کړ

خاموش له زمزمې شې به خزان کښې وفا گوره
د خزبیا بهار راځی دی بلبل هومره تحمل کړ

زه هم دیار پرمخ لکه پتنگ هسې خاموش یم
آشنای را نه په ژبه د ا رموز د لا تقل کړ

عاشق اظهار وی د معشوق ناز و غمزه د حسن
د چاپیاد چه څه ؤ عندلیب مشهور گل کړ

په نطق کښې آفت دی خاموشی خوی که سالمه
جرس په دېرو نارو ورهزن ته لحان چغل کړ

مرجان د لالږ مون له ویخو ستاله شونډو دی دلبره
خجل ئې په بوستان کښې د استازلفو تور سنبل کړ

قلم د «حنان» گوره مشك افشان په دا سبب شو
چه مشق ئې همېشه د آهو چشم د کاکل کړ

ستا کاکل د چین له مشکو میدان یوونه
سرو لبانو دې هم آب د مرجان یو وونه

حيرانېږم دی د ستر ګو تاراج ته
له زاهده ئې جلب د ايمان بوونه
د چاقتل ئې په زړه کښې مدعا ده
چه وغوږتي (۱) دابرو بو کمان بوونه
کوم صياد و ښکار ته نه پرې خبر نه يم
چه آرام ئې له آهو د د امان بوونه
زلفې ، وروځې خال وخط ستر کو مژګانو
زړه مې کوم بوه حيران يم تر ميان بوونه
نزاکت ته ئې د مخ په تعجب يم
چه له ګله ئې دوام په څه شان بوونه
داطوفان دی که سيلاب دی نه پوهېږم
که «حنان» دخپلو او ښو باران بوونه

﴿ز﴾

که محرم ه ې د وصال نه يم هرګز
ستا له عشقه توبه ګار نه يم هرګز
چه ناصح توبه را کاږی ستا دمينې
مستمع د دې ګفتار نه يم هرګز
که يم سل ځله د زلفو مار چيچلی
له دغه ماره بېزار نه يم هرګز
په هغه شپه چه مې ستا وصل روزی شي
زه غريب خوښ په سهار نه يم هرګز

---

(۱) تېرېدته ئې مخفف دی .

ژما شا چه ستا د مخ د ګلشن زه کړم

خوښ به ګلو به ګلزار نه یم هرګز

زور و ظلم و جفا جور تر حده تېر شو

چه بودم ځنې وزګار نه یم هرګز

څو به زه له شیرینې لبو کړم پرهېز

چه به واك نه دی زما د عشق شبدېز

بې ستون ئې په ستون کړ کوهکن خوشې

د شیرینې لب نصیب شو د پرویز

هسې قتل کړم بې دریغه نورو ستر ګو

چه به ګونګ یم لا یه ور ځ د رستا خېز

بې د یار له ګرزېدلو بانو ګمانو

ګرزېدلې دم خنجر ګله وی تېز

ستا او ږدو زلفو امید زما پیدا کړ

د پادشاه پر در زنځیر وی دست آویز

د صادق عاشق مدام او ښې بهېږی

کمبود نکوی د ښې ملګې ګاریز

په تعریف د شکر لبو نه دی څه دی

چه «حنان» شو په دا و د شکر ریز

دیار عشق راته پیدا کړهسی سوز   سمندر راته حیران دی شب و روز

خو شالی بی غمه نشته په هیڅ فصل   لکه پیښ په محرم کښې شی نوروز

دا سر خط د بند ګې و یار ته وړ کړه   زما خبر مې پیکا نه بولی هنوز

ښوك به و كندي زما دزړه كي زخم   نابيدادي په دا ښهر كښي دل دوز
كه ژړانوي عاشق كوي كرم نه دي   كار خراب شي له ښا كرد نو آموز
ديار درمي له رقيبه خالي نشو   په جنت كښي راته شين شو دغه روز

چه په هر مجلس كښي ستا دمخ صفت كړي
« دحنان » گفتار په دا شو بزم افروز

چه داستان مي ستا دميني كړ آغاز   زه په دا شوم په عالم كښي سرفراز
مصور كه دي صورت كيښي حيرانيږم   چه په څه دستوبه و كاږي ستا ناز
زما دزړه دخون ريز يو په طلب كښي   هميشه په فكر ناست ئي لكه باز
درقيب ديند پنبه دي ده په غوږ كښي   ځكه نه اوري زما ددرد آواز
سر له سره به شي ځوان كه ئي ښوك مومي   په پيري كښي نعمتونه دمجاز

دردمندان به د « حنان » په حال پوهيږي
بي دردان كله خبر وي په دا راز

ښوك چه سيل ستا دمخ كوي په نياز   له حيرانه ستركي پټي كړي خوله واز
له بنايسته ناز معلوم شي او كه نه وي   بدخوئي به ځرنګ بيله كړي له ناز
خوبائي ديار دستر كو بل ځاي نشته   د نركس خوبائي نه راځي له پياز
نسب نه دي شرط هر كز دعشق په كور   دمحمود دميني څه ؤ له اياز
دزړه حال يار ته مه وايه ښو دي توان شي   دغه يار به يار خبر كړي ستا له راز
دنادان په رنګ سكه مه غلطيږه   دتصوير دمرغه څه دي له پرواز

دجنون جامه پرتا كله جوړيږي
د « حنان » پرقدئي سكښتي دي غماز

﴿ ز ﴾

چه پر سر باندی له خیاله زدی دستار کوږ   پیاله لاری شاو خوا څی لکه مار کوږ
و کوهی ته ډېر لویدلی دی خبر شه   چه له کبره سم نه گوری څی پر لار کوږ
چه هرزه هرزه ویل کوی بدمومی   غوږنی و مرووی ویل چه کوی تار کوږ
په ځوانی عبادت کړه په پیری نشی   چه اول ښتی کږی شی وی دیوال کوږ
د آزار اسباب معلوم دی په هر څه کښی   د ښکاری مرغا نووی نوك د منقار کوږ
و مزله ته نه رسیږی که پوهیږی   هغه خلقو چه تر لی ئی وی بار کوږ

پری وتلی تر غرو سم شی ای «حنانه»
نه سمیږی هغه څوك چه کړی آزار کوږ

﴿ س ﴾

ا ی په کبر کښی محبوس   د بل عیب له راه جاسوس
هر څوك کښت کړی حاصل اخلی   تر بیگا ره نشته بوس
د نیا ځا ی د آ را م نه د ی   څه شو ه یا نه له کا ؤس
د عر فا ن څر ا غ نه و بلی   څه گیله کړی له فا نوس
چه نقصا ن د د نیا د ر شی   هغه د م له خد ا یه بر و س

په لا تقنطو ا « حنا نه »
ا مید و ا ر شه له قدوس

که هر څو ز اهد را وا چو ی و سو اس
وا به نخلم ستا له مینی څخه لا س
ستا تعر یف په کوم زبا ن و کړم دلبره
چه ښنا بست د ی با لا تر د ی تر قیا س

ستا تر ناز و تر غمزه بې(۱) صدقه کړم
که مې مال که مې دنیا ده که اساس
چه ساقي شي د یار بزم کښې مې نوش کړه
له قاضي او له مفتي مکروه راس
تمام عمر ئې له وصل بې نصیب یم
لکه زخم د ناسور حاصل مې یاس
اخلاص نلري هرګز ترکان له خلقو
عالمونه ئې غرق کړي په لباس
شپه و ورځ میاشت و هفته په هر ساعت کښې
دا آسمان وږه کوي د دحنان هراس
ستا د مخ تر ګل ګلان دي د بوستان پس
زما تر شور و تر فغان دي بلبلان پس
دا ئې خط په رخسار نه دی چه ښکاریږي
پوره شوی ګرد د حسن د کاروان پس
ژړانه کوي اثر د خط په وخت کښې
لکه بې وخته چه و اوري باران پس
پر تېر شوي کار ئې نه رسي لاس و نه
نو خطان که کړي ښځا کوي ارمان پس
نو خطان په عاشق هسې زهیر یږي
لکه پېښ شي د مفلس کره مهمان پس
نتیجه د سخې څه ده بې نیستیه
له پاشلو شي خالي لاس د دهقان پس
دا پر شوندو ئې سیاهي د بر پتو نده
پر آئینه د مخ ئې آه دی د دحنان) پس

---

(۱) د به مخفف دی.

ش

چه ئې سر د نور کاکل شو دام فروش
په سودائې شوهر صید آرام فروش
چه ئې ستا و مستو ستر گو ته نظر کړ
شو نرگس له دیره شوقه جام فروش
کې په روح رانیسم هم را الره بنائی
چه قاصد شی ستا د لبو پیغام فروش
نتیجه ئې په دنیا کښې مخ نوری ده
د نگین په شان چه څوك شی نام فروش
چه دعشق محکم زنار شو ور ترغاړه ی
شیخ صنعان شو هغه دم اسلام فروش
چه ئې ولیده خمار د یار د ستر گو
گلشن شو په دا سبب با دام فروش
دغه خیال د آهو چشم دی « حنانه »
په پیری کښې چه ئې کړې مقام فروش
په کاته کاته دې هسې شوم مدهوش
چه نا صحح رانه له وعظه شو خاموش
د سرو شوندو په مطلب دې زه پوهېږم
په حال پوه دی میخواران د میفروش
په رخسار دې خط و خال هسې نمائیږی
لکه شاه چه شی له قهره سیاه پوش
له عرقه د جبین دې معلو میږی
دم په دم د عاشقانو د زړه جوش

هم هغه به ترقیامته پوري مست وی
چه یو څل داستا دخولي پیاله کړي نوش
لکه نمر چه راوخیژي ستوري نه دي
ستا له مخه بناپیري شو تول رو پوش
په درست عمر دي ونه ویل له قهره
«چه حنان» می دي قدیم حلقه بگوش
ستا دزلفو خیال چه زه افگار سا تم همیش
هسي په سینه کښي گوبامار سا تم همیش
زلفي دي سنبل مخ دي گلاب سترگي نرگس دي
زه باندي باغبان یم داگلذار سا تم همیش
داله تلوسي چه پرقلب مي پیر زو نشي
څکه په ځیگر کښي ستا آزار سا تم همیش
خلق زهیر یبزی چه مجلس لرهور دروهم
پس لدي به زه نور ځان کنار سا تم همیش
عکس درخسار چه دي زما په زړه کښي گرزي
زه په خپل ځیگر کښي سورانگار سا تم همیش
زړه مي ستا له غمه همیشه آه و فغان کړی
زه یخپل وجود کښي دابیمار سا تم همیش
سترگي مي څلورشي ستا پر خوا چه وعده و کړي
زه «حنان» له غیرو دا ستا نار سا تم همیش

ښ

ستا ستم زما پر زړه دی نهایت خوښ
له پادشاه وې پر رعیتو رعایت خوښ

خط دې دی ایات د حسن شو نه وی وقف
په سرخی سره وی وقف د آیت خوښ

خیال دې ولی ړېز مرېز زما صورت کړ
پادشاه نه وی په تاراج د ولایت خوښ

غزال نه اوسی د سپیو په جوار کښی
نه په څه شوې د رقیب په حمایت خوښ

د یار د پر هجر کړم مونږ له خوږه عمره
شوم په داد صبر تېغ په کفایت خوښ

څه شکوه به کړی له نورو بېګانه وُ
چه خپل یار شو د «حمان» په شکایت خوښ

ص

آشنائې سره رسېږی په اخلاص
د دریاب کشتی چلېږی په اخلاص

په لباس مرید له پیره برخه نه وړی
د ایمان څراغ بلېږی په اخلاص

چه له سره غواص تېر شی د ررا کاږی
پر ګوهر دی لاس لګېږی په اخلاص

چه خپل سر په صدق لاندې کړي تر خاورو
دانه ګوره زر غوټېږي په اخلاص

د بلبل سوې ژړا په لباس نه ده
په خندا چه ګل غوړېږي په اخلاص

د استاد شفقت کرم له پلاره نه دی
چه شاګرد وته قهرېږي په اخلاص

د سکوت مهر پر خوله کېږده «حنانه»
مراد د پټې خولې حاصلېږي په اخلاص

ض

که هر څو کړم له خوارۍ پر خپل یار عرض
هغه شاه د حسن نه اروي د خوار عرض

آه فغاد یار له جوره بې فائېدې دی
نه قبلېږي د ګل رخو په دربار عرض

بېهوده څه نصیحت کوې ناصحه
عاشق نه مني په مینه کښې د پلار عرض

زما مرګ د خپلو سترګو په مرضی دی
هر سړی په مهر اخلي د بیمار عرض

سیاه بختي مې تا نه څوک و بلای نشي
مګر وکړي ستا پر غوږ د زلفو تار عرض

ستا د عمر د دولت په مراد د اسره
همېشه کړم د پیر او پر هزار عرض

- 2 AUG 9
Copy ____ 1957

د پښتو ټولنې تازه خپرونې

۱ : لوړ خيالونه اوژوړ فکرونه ـ د ګل پاچا الفت اثر يو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داورلمبې د ښاغلي خيبري اثر يو جلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښې د ښاغلي بختاني تدوين يو جلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق د ښاغلي الفت اثر يو جلد په (٦) افغانۍ

٥ : افغان قاموس د ښاغلي عبدالله افغاني نويس اثر يو جلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : پښتو نثرونه د محمد دين ژواک تدوين ...

۷: پريشانه افکار: د ښاغلي بېنوا يو جلد په (۸) افغانۍ

دا کتابونه د پښتو ټولنې په پلورنځي کښې موجود دي .

کابل مجله

دا مجله د پښتو په خوازه ادبي تنده ماتوي .

دا مجله د پښتنو د نياد معرفي پوازينۍ وسيله ده.

دا مجله د نيړوال او سنيو پښتنو پرژوند ښه رڼا اچوي.

تاسې کولاى شئ چه دا تنده په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په د ننه هېواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (١٢) کلدارې په نورو د باندنيو هيوادونو کښې په (۳) دالره ماتـه کړئ

د ښوونځيو وزده کوونکو ته په نيمه بيه .

د نوى کال داشتراک دپاره په کابل کښې همدغه بيه د پښتو ټولنې د محاسبې مديريت ته او په ولاياتو کښې د همدې مؤسسې د جاري نمبر (په ٥ ۷۸۷) لمبر افغانستان بانک ته سپارل کيږي

مطبعهٔ دولتی